د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او
درسي کتابونو د تالیف ریاست

# پښتو

## نهم ټولګی

## (د دري ژبو له پاره)




د چاپ کال: ۱۳۸۸ هـ . ش.

**د پوهنې وزارت**

**د تعلیمي نصاب د پراختیا او**

**درسي کتابونو د تالیف ریاست**

# پښتو

## نهم ټولګی

## (د دري ژبو له پاره)

**درسي کتابونه د پوهنې وزارت پورې اړه لري. په بازار کې يې اخيستنه او خرڅونه په کلکه منع ده.له سر غړوونکو سره قانوني چلند کیږي.**

**د چاپ کال: ۱۳۸۸ هـ . ش.**

# دبیا کتنې کمېټه

## د ژبې او محتوا کمېټه:

ـ سید احمد مومند د پوهنې وزارت سلاکار.
ـ د مؤلف مرستیال محمد عزیز تحریک د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړی او د پښتو دیپارتمنټ آمر.
ـ د سر مؤلف مرستیال امین الله نژند تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړی.
ـ اقامحمد ګړندی د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړی.
ـ میرویس ځدارڼ د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړی.
ـ محمد ګلاب د استقلال لیسې ښوونکی.

## دیني، سیاسي او فرهنګي کمېټه:

ـ ډاکتر محمد یوسف نیازی د پوهنې وزارت سلاکار.
ـ محمد آصف ننګ د پوهنې وزارت د خپرونو او اطلاعاتو رئیس.
ـ د مؤلف مرستیال محمد سهراب دیدار د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړی.

## د څارنې کمېټه:

ـ ډاکتر عبدالغفور غزنوي د پوهنې وزارت تدریسي مُعین. د کمېټې رئیس.
ـ عبدالواسع آرین د پوهنې وزارت سلاکار. غړی.
ـ مؤلف عبدالظاهر ګلستانی د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف رئیس. غړی.

## کمپوز او ډیزاین:

ـ صفت الله مومند او نصرالدین ناصر د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د کمپیوټر دیپارتمنټ غړي.

بسم الله الرحمن الرحيم

# پيغام

د لوی خدای (ج) شکر ادا کوو چې زموږ د مجاهد ملت د کلکې ارادې، بيدريغه قربانيو، د ملګرو ملتونو او د نړۍ د بشردوستو هېوادونو د نيکو هلوځلو په پايله کې په هېواد کې سراسري سوله او مشروع سياسي نظام ټينګ شو او له جګړې څخه را پيدا شوی څوکلن کړاو يې پای ته ورساوه. د افغانستان اسلامي جمهوريت او په سرکې يې جلالتمآب حامدکرزی د واکمن وګړنيز نظام له پيل څخه ملي سترو مـــوخو ته د رسېدو په هيله د هېواد د بيارغاونې او پراختيا په ټولو برخوکې د نوو پروګرامونو تګلاره پيل کړې ده. د ښوونې او روزنې په برخه کې او د معارف د نوي کيدو او غوړيدو په لاره کې هڅې، د ملي يووالي، متمدنو، رښتينو او د پياوړو مسلمانانو په توګه د نوی ځوان نسل د روزنې په برخه کې د دغه جلالتمآب زيات ملاتړ او زړه سواندې لارښوونې چې تر تطبيق لاندې دي د ډېرې درناوي وړ دي.

دپوهنې وزارت دهغو لارښوونو او نوښتونو له جملې څخه چې دافغانستان دپوهنې د بيارغاونې په لاره کې يې ترلاس لاندې لري، د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف رياست ته دنده ورکړې ده چې له يوې خوا د ښوونځيو د لوست دکتابونو دکمښت او نشتوالي ستونزه لرې کړي او له بل پلوه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د علمي او فرهنګي پاليسۍ اوموخو په رڼا کې د داسې واحد تعليمي نصاب په ترتيبولو بوخت شي چې د هېواد اوسنيو او راتلونکو اړتياوو ته ځواب ووايي. زموږ نوی تعليمي نصاب چې د افغانې ټولنې له غوښتنو او نړيوالو معيارونو سره عيار شوی، موخه يې د هېواد د بچيانو اسلامي اوعلمي روزنه اوزده کړه ده چې په نتيجه کې يې دپوهنې د زده کوونکو، ماشومانو، تنکيوځوانانو او ځوانانو په ذهن کې سالم تفکر پياوړی او هغوی د نوې پوهې له ارزښتونو سره آشنا کوي. زموږ د هېواد ځوانان بايد متدين مسلمانان، هيوادپال، بشرپال او د پوهې او کمال پر ګاڼه سمبال انسانان وروزل شي ترڅو د علومو د پرمختيا او معاصر تمدن له پرمختګ سره اشنايي ترلاسه کړي او په ټينګ هوډ سره له هغو نوو او مثبتو بدلونونو څخه چې رامنځته شوي دي ګټه واخلي. دنوي افغانستان او د يوې سوکاله ټولنې د جوړونې په موخه د ساينس او تکنالوژۍ له بدلونونو سربېره بايد د انساني علومو له بنسټونو، د بشري حقونو د ساتنې، سولې، هېوادپالنې، ملي يوالي، د استوګنې د سالم چاپيريال د ساتنې اوسوله ييز ګډ ژوند څخه خبر وي. د جهل له تورتم او د مخدره توکو له توليد او قاچاق سره مبارزه د خپلوزده کړوپه سرکې په پام کې ونيسي.

موږ له رښتينو، زړه سواندو اوتجربه لرونکو ښوونکو څخه چې د نوي تعليمي نصاب په تطبيق کې د هېواد د بچيانو د زده کړې او روزنې سترمسؤليت پر غاړه لري او دغه راز د هېواد د پوهنې د برخې له نورو علمي، فرهنګي شخصيتونو او پوهانو څخه هيله لرو چې د خپلو رغنده نظرونو او وړانديزونو په وړاندې کولو سره زموږ له ليکوالو سره د درسي کتابونو په ليکلو او ښاوړي کولو کې مرستې وکړي. په همدې ډول له تمويلوونکو هېوادونو او درنو سازمانونو (د امريکا د متحده ايالتونو د نړيوالې پراختيا اداره، دانيدا، يونيسف، نړيوال بانک اويونيسکو)څخه چې دکتابونو په تاليف او چاپولوکې يې د پوهنې له وزارت سره مادي اوتخنيکي مرسته کړې ده مننه کوو. له ټولو ګرانو زده کوونکو، درنو ښوونکو او محترمو ميندو پلرونو څخه هيله کوو چې د درسي کتابونو په ښه ساتنه کې خپله مرسته ونه سپموي.

فاروق وردک

**دافغانستان داسلامي جمهوريت دپوهنې وزير**

# لــړلــيک


| سرليک | مخ | سرليک | مخ |
|---|---|---|---|
| حمد | ۱ | سوله | ۲۸ |
| نعت | ۳ | وطن وايي | ۳۰ |
| ځان وپيژنه | ۴ | ژوند | ۳۲ |
| ټوکه | ۶ | نوي نسل ته پيغام | ۳۳ |
| د ژبې اهميت | ۷ | پاړکی | ۳۴ |
| وطنه تانه ځارشم | ۹ | ملي يووالی | ۳۵ |
| پوهنه | ۱۱ | خير خواهي | ۳۷ |
| مطالعه | ۱۴ | ښه ژبه | ۳۸ |
| ښوونکی | ۱۶ | د مطالعې لپاره کتاب غوښتل | ۳۹ |
| د وطن ترانه | ۱۸ | د لويانو خبرې | ۴۰ |
| شعر او ادب | ۱۹ | کار وکړئ، سوال مه کوئ | ۴۱ |
| سبا | ۲۱ | عبدالرحمان بابا | ۴۴ |
| برابر ويش | ۲۴ | د عبدالرحمان بابا د کلام نمونه | ۴۶ |
| اې زما وطنه | ۲۶ | حريص تل بې برخې وي | ۴۸ |

| سرلیک | مخ |
|---|---|
| متلونه | ۴۹ |
| لیکوالي | ۵۰ |
| د لیک ډول | ۵۱ |
| پلارته لیک | ۵۴ |
| د شمولیت غوښتنلیک | ۵۵ |
| دا وطن | ۵۶ |
| یووالی | ۵۷ |
| نشه يي توکي | ٦۱ |
| مرستندوی غړونه او توري | ٦۳ |
| د ځینو تورو ډولونه | ٦۴ |

| سرلیک | مخ |
|---|---|
| کلمه | ٦٦ |
| په خپلواکو کلمو کې نوم او د هغه ډولونه | ٦۸ |
| نورو ته خیر رسوه | ٦۹ |
| د عبارت په باره کې معلومات | ۷۰ |
| عبارت او جمله | ۷۱ |
| ساده او مرکب عبارت | ۷۲ |
| په جملو کې د کلمو اړیکې | ۷۴ |
| په خپل شوق مکتب ته ځم | ۷۵ |
| په جمله کې د کلمو د اړیکو ډولونه | ۷۷ |
| زموږ د هیواد غرونه | ۸۰ |

# حـمـد

پە نامە د هغە خـدای مـې دا بیـان دی
چې یو نوم یې پە نومونو کې سبحان دی
هم پادشاه دی د جمـلـە و پـادشــاهانو
هم د هر یوه سلطان پە سر سـلـطان دی
چې پە دە شي هغە کار پە هېچا نە شي
هر توانا ددە تر تـوان پورې نـا توان دی
پە سجدە یـې ځـمکې سـر دی لگولی
هـم یــې څورند پە رکوع سرە آسمان دی
هـــرە ونـــە پـــە قـیـام ورتـــە ولاړه
هر گیا یـې پـە تـسـبـیـح سرە زبان دی
همە واړه پـە تـسـبـیـح ددە مشغول دي
کە ملك دی کە پېری دی کە انسان دی
هر مـاهي یې پە دریاب کې حمد وایي
هر مرغە یې پە چمن کې ثنا خـوان دی
حق پە حـق یې ثـنا هېـچـا کړې نـە دە
نـە لـە هېـچـا واقـع شوی دا بیان دی
مـخلـوقــاتو هسې نـە دی پـېـژندلی
لـکــە دە سرە چې قدر د خپل ځان دی
حد پایان یې هېڅ سړي موندلی نە دی
مـعـرفت یـې هـسـې بحر بې پایان دی

(رحمان بابا)

| لغتونه: | معناګاني: |
| --- | --- |
| حمد | د الله ستاینه |
| سلطان | پاچا |
| توانا | غښتلی، پیاوړی، قدرتمند چې توانا وي |
| قیام | ولاړ، درېدل |
| موندلی | لیدلي، پیدا کړی |
| معرفت | پېژندنه |

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې د پورتني حمد هر یو بند زده کوونکو ته بیان کړي او له هغوی څخه دې وغواړي، چې د هر بیت مفهوم په خپله ژبه بیان کړي.
- زده کوونکو ته دې هدایت ورکړی شي چې پورتنی حمد یاد کړي او د خپلو ټولګیوالو مخې ته یې ولولي.

# نعت

رب العالمین دی رحمة للعلمین ګڼي

نه لري ثاني چې دی خاتم النبیین ګڼي

ډېر خلك دي وایستل تیارونه د رڼا لور ته

ستا لاس کې رڼا مسلمانان نور الیقین ګڼي

ته په مؤمنانو مهربانه له هر چا نه وې

ځکه دي رؤف رحیم ارحمُ الراحمین ګڼي

ستا خلق عظیم خو په قرآن کې خدای ستایلی دی

نور خلق لا څه چې مشرکان دې هم امین ګڼي

ډېر دې له دوزخه ګرځولي د جنت لورته

ښایي در سره چې دی شفیع المذنبین ګڼي

تا مؤمن په بعث بعد الموت باندې مؤمن کړلو

نه مري مؤمنان آب حیات د اسلام دین ګڼي

(ګل پاچا الفت)

سپارښتنې:

- ښوونکی دې د پورتني نعت هر یو بند زده کوونکو ته معنا کړي او له هغوی څخه دې وغواړي چې د هر بیت مفهوم په خپله ژبه بیان کړي.
- ښوونکی دې لغتونه معنا کړي.
- زده کوونکي دې له پورته شعر څخه کلمې خوښې او په جملو کې دې وکاروي.

# ځان وپېژنه

زلمیه!

سترګې خلاصې کړه، د بدبینۍ حس له مغزو څخه وباسه، په ځیر ځیر وګوره، طبیعت ټول تاته په خندا او ستا د ژوندانه د هوساینې ځیزونه راغونډوي. غرونه ستا د لوړ همت د ښه راغلاست له پاره هر لور ته سر ښوروي.

لمر هره ورځ له ځانه سره تاته ستا د ژوندانه یو عالم ارزوګانې راوړي او مازدیګر دې عملونه هغه جهان ته وړي، چې هلته یې هیربدل هیڅ امکان نه لري، پس له مرګه به یې هره ورځ په خپلو طلایي وړانګو کې راتلونکي نسل ته د سر مشق په څېر ځلوي.

ځکه خپل ارمانونه د ګلونو په پاڼو کې تاته وړاندې کوي، د وطن د زړو او وړو د هیلو سترګې ستا خواته کږې دي، ځکه چې ته د دوی او دوی ستا دي. د کوچنیوالي لوبې کوچنیانو ته پرېږده، د زلمیتوب بې ځایه عیشونه او هوس هغه چاته وړاندې کړه چې ته یې پیښنې کوې!

ته د خپلو بې وزلو کاریګرو سره لېچې ونغاړه، کار وکړه، له بزګرانو سره لاسونه تېناکې کړه، له زده کوونکو سره ماغزه وخوره،

د وطن د پرمختګ زيار وباسه. پرېږده چې نور په هوا الوزي، ته بې وزرو الوتی نشې. ځان وپېژنه!
تش په خبرو هېڅ نه سره ورځي، عملي ميدان ته راووځه، دا خاوره ستا همت ته ګوري، کارغواړي.
د بې غمۍ او استراحت سره خدای پاماني وکړه، خوب د ګور مړو ته وسپاره، ته خو ژوندی يې، درنو سترګو بېدېدل د سويې خوب دی ، ته انسان يې، پاڅه!
د هېواد راتلونکي نېکمرغي په تا پورې اړه لري. د زلميتوب طلايي ورځې په همدې خدمت کې تېرې کړه. سرتر پايه د تقليد په جامو کې ځان مه نغاړه، ته هم د نورو په څېر روغ رمټ يې، ددې وخت دی چې ځان ته ووايې: "آه لا به تر څو؟؟
ځان وپېژنه، داسې کار کوه، چې نور ستا تقليد وکړي، لکه پخوا چې يې کاوه.

(اروابښادالفت)

---

پوښتنه:

۱. له پورتني متن څخه مو څه نتيجه واخيسته خبرې پرې وکړئ.

# ټوکه

یوه ورځ یوه سړي خپل ملګري ته ور وروټکاوه. هغه له وره څخه دننه غږ وکړ: "څوك یې؟"

د باندې ملګري ددې پر ځای چې خپل نوم ورته واخلي یا ځان ور وپېژني، ویې ویل: "زه یم".

د کور دننه ملګري ورته وویل: "زما په ملګرو کې زه نشته، ځه ګرانه په کار پسې."

---

سپارښتنه:

- ښوونکی دې د پورته ټوکې په اړه له زده کوونکو پوښتنې وکړي چې هر یو پرې وغږېږي.

## د ژبې اهمیت

په هر دم په هر زمـــــان پکارده ژبه
د همــه واړه جهــان پــکار ده ژبه

نــا اشنــا نږدې کــوي سره خبرې
په خبرو نــږدې کیږې خلك لیرې

د تورزنو پــکار نــه وي هومره توره
لکه ژبه پــه هر ځای کې وي منظوره

کـه کــاتب دی که کاغذ دی که قلم
ټول د ژبـــې خدمت ګار دي دم په دم

پـه مرغانو کې طوطي دی عزت مند
دا پــه دا چې ښې خبرې کړي د خوند

بـــده ژبــه د سړي په ځان بــــلا شي
خـــوږه ژبه لــه سړي چاپېر کــلاشي

هــر ســړی د سړیتوب دعوا چې کــاندي
ځان دې پوه کاندي په ډېرو ژبو باندې

کـه حــاکم وي غور هېڅ نشي کولی
کـه عــالـم وي طـالـب نشي پوهولی

په سفــر کــې لکــه نقش د دیوال

ګونګ ولاړوي بې طاقت او بې مجال

احمــد وکــړ د انــســان آســان کــلام

چې پوهیږي پرې کل واړه خاص وعام

(مولوي احمد)

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې په څو زده کوونکو باندې بیتونه تکرار کړي.
- له زده کوونکو څخه دې د ژبې د ارزښت په هکله وپوښتي او بیا دې په خپله دژبې په ارزښت خبرې وکړي.

# وطنه! تا نه ځار شم

وطنه! تا نه ځار شم ستا له هوا نه ځار شم
دا ستا له ځمکې نه ځار ستا له فضا نه ځار شم
اې د افغان وطنه! لوړ په جهان وطنه
جنت نښان وطنه وطنه! ګران وطنه
ستا له سبا نه ځار شم ستا له بېګا نه ځار شم

وطنه! تا نه ځار شم

د لوړو غرو وطنه! د مېړنو وطنه
د غرځنو وطنه! د پرګنو وطنه
ستا له جرګو نه لوګی ستا له وفانه ځار شم

وطنه! تا نه ځار شم

ستا ننګيالي فرزندان ستا توريالي فرزندان
تل بريالي فرزندان ستا نوميالي فرزندان
ستا د زلمو د شملو له رپېدانه ځار شم

وطنه! تا نه ځار شم

په دې دنيا جنته! د ټول افغان عزته
د ننګ ټوټو غيرته زمونږه خوږ قسمته
د سروګلونو بڼه ستا له بېديا نه ځار شم

وطــنه! تــا نــه ځــار شم

ستا نوي شور ته سـلام ستــا نــوي زور تـه سلام

د ســتــرګــو تــور وطـنه ستا له ښکلا نه ځار شم

وطــنه! تــا نــه ځــار شم

ســردې اوچــت اوســه تل لوړ دې غيرت اوســه تـل

خوندي دې پـت اوسه تل مــونږ ته جنت اوســه تــل

د نوي يــون په شور کـــې ستا لـــه غوغانه ځار شم

وطــنه! تــا نــه ځــار شم

وطــنه! تــا نــه ځــار شم

(حافظ)

# پوهنه

علم د پوهې د پېژندنې او خبرتیا په معنا دی. پوهه د یوې رڼا په څېر ده، چې د انسان زړه، دماغ او د هغه د بریالیتوب لارې روښانه کوي. انسان له بې لارۍ او مایوسۍ څخه ژغوري، موخې ته د رسېدلو لارې چارې ورته برابروي. له بلې خوا جهل او ناپوهي داسې تیاره ده، چې انسان له ډار، خطر، اړتیا او خوارۍ سره مخامخ کوي. څښتن تعالی خپله د پوه او ناپوه تر منځ د توپیر په اړه داسې فرمایي: "ایا هغه کسان، چې پوهېږي او هغه کسان چې نه پوهېږي، سره برابر دي"؟

هو! هېڅکله پوهنه او ناپوهي، پوه او ناپوه، رڼا او تیاره یو تر بله سره برابر نه دي، ځکه پوه انسان د پوهې او علم په زده کړه او په هغې باندې د عمل له لارې دنیا او آخرت دواړه ګټي او هغه څه چې د انسان د پت او عزت سبب ګرځي او د خلکو په وړاندې د هغه قدر او درناوی پرې زیاتیږي، هغه علم او پوهنه ده، چې له عمل سره یو ځای وي.

د علم او پوهې په وسیله انسان خپل ځان او خپل خالق (الله ج) پېژني، نو په کار ده چې علم له عمل سره یو ځای وي، ځکه وایي:

"د علم او پوهې مېوه عمل دی." بې عمله عالم د شنډې ونې په څېر دی، چې هېڅ ارزښت نه لري.

زده کوونکي باید د اسلامي علومو د زده کړې تر څنګ د تخنیك او صنعت زده کړه هم وکړي، ځکه موږ د ژوندانه په ډګر کې تخنیك او لاسي کارونو ته هم اړتیا لرو. باید هڅه وکړو، چې د نومړو علومو له زده کړې څخه هم بې برخې پاتې نه شو اود اسلام د دښمنانو د مقابلې په وخت کې وکولی شو، چې په خپلې پوهې او تخنیك سره د دښمنانو مخنیوی وکړو.

همدا ډول له خپل علم او پوهې څخه باید دانسانانو د هوساینې، سوکالۍ او د هغوی د ستونزو دلرې کولو په لاره کې کار واخلو، نه دا چې زموږ پوهه په خلکو باندې د زور او تېري کولو وسیله شي یا عالم د داسې غله په څېر شي چې په لاس کې یې څراغ نیولی وي، چې د خلکو مالونه په اسانۍ سره پټ کړي.

موږ باید د خپل علم او پوهې په وسیله نوې پلټنې او په اختراع شویو څیزونو کې د نوو موندنو هڅه او هلې ځلې وکړو. د ایمان او عقیدې په رڼا کې باید له علم او پوهې څخه د بشر د نېکمرغۍ له پاره کار واخلو.

| لغتونه: | معناګانې: |
|---|---|
| سوکالي | آرامي، هوساینه |
| مایوسي | ناهیلي |
| هوساینې | آرامې |
| پوهه | علم |
| ستونزو | مشکلاتو |
| ګټه | فایده |
| ډګر | میدان |

---

سپارښتنه:

- ښوونکی دې د پوهې د اهمیت په اړه زده کوونکو ته بشپړ معلومات ورکړي او زده کوونکو ته دې لارښوونه وکړي، چې دا لوست په ځیر سره ولولي او مفهوم یې په ساده او روانه ژبه بیان کړي.

# مطـالـعه

مطالعه داسې کړنه ده، چې د انسان د سترګو له مخې څخه د جهل او ناپوهۍ پردې لرې کوي. مطالعه انسان لـه بېلابېلو ارزښتناکو موضوعګانو او مطلبونـو څخـه خبروي. انـسان دې تـه هڅـوي، چې بايد د علم او پوهې څښتن شي.

ډېر ښه او ارزښتناکه شيان د مطالعې په وسيله لاس ته راځي. د مطالعې له برکته انسان د علم، پوهې او کمال څښتـن کيـږي، مطالعـه د انـسان د ماغي ځواك ته وده او پراختيا ورکوي. د مطالعې په مرستې سړی کـولی شي، چې د ښه او بد تر منځه توپير وکړي، زيار وباسي او د خپلې دنيـا او اخرت د ښه والي له پاره هڅې وکړي.

مطالعـه انـسان د خپـل ژوندانـه لـه مـسئوليتونو څخـه خبـروي او انسان ته لارښوونه کوي، چې څه ډول خپل مـسئوليت پـوره کـړي او پوه شي چې مسئوليت څه ته وايي.

هـمدا مـطـالـعـه ده، چې انسان د هـغــې پـه وسيله خــپــل رب ﷻ پېژني او اړيکې يې له خپل خالق الله ﷻ سره ټينګيـږي د مـطـالـعـې پــه مرستــه ســړی کـولــی شي، چې د خپـل الله ﷻ عبادت په سمه توګه وکړي. د اسلام په سپېڅلي دين او شريعت پوه شي او د اسـلام لـه لارښـوونې سـره سم عمـل وکـړي او نـورو خلکـو تـه د ښـو او بـدو

تو پير ور په ګوته او لارښوونه يې وکړي. په بدې لارې له تګ څخه يې مخنيوی وکړي او ښو کارونو ته يې وهڅوي.
د مطالعې په وسيله انسان د دنيا او آخرت د نېکمرغۍ لاره پيدا کولی شي. له همدې امله په پاك قرآن کې ددې خبرې تاکيد شوی دی، چې انسان بايد د پوهې او مطالعې په وسيله د خپل ژوندانه غوره لاره پيدا کړي او په هغې باندې روان شي.
څرنګه چې مطالعه ډېرې ګټې او ښيګڼې لري، نو ښايي چې تاسې د ښوونځي د زده کوونکو په توګه د تل له پاره په هر ځای او هر وخت کې مطالعه وکړئ او هڅه وکړئ، چې داسې ښه او ګټور کتابونه پيدا کړئ، چې تاسو ته په دنيا او آخرت دواړو کې ګټه ورسوي.

| لغتونه: | معناګانې: |
| --- | --- |
| هڅه | کوښښ، زيار |
| ګټور | مفيد |
| نړۍ | دنيا |
| سپېڅلی | پاك |

سپارښتنه:

- ښوونکی دې د مطالعې د ارزښت په اړه زده کوونکو ته ګټورې لارښوونې وکړي.



# ښوونکی

ښوونکی هغه څوك دی، چې د پوهې په ګانه سره سمبال وي. خپل علم او پوهه نورو ته په ډېره اغېزناکه توګه د تدریس او لارښوونې له لارې رسوي.
نو ویلی شو، څرنګه چې لمر د خپلو وړانګو په وسیله نړۍ روښانه کوي، ښوونکی د علم او پوهې رڼا په ټولنه کې خپروي، چې خلك د علم او پوهې په رڼا کې د لوړ او پتمن ژوند څښتنان او د آخرت ښیګڼې ور په برخه شي.

ښوونکی هڅه کوي، چې تاسو ته علم او کمال دروښيي او په داسې معنوي جوهر مو سمبال کړي، چې په هر کار کې د ښېرازۍ او پرمختګ پر لور اوچت ګامونه واخلئ.

ښوونکی د ښوونې او روزنې په وسيله تاسو ته داسې ګټه او شته در ببښي، چې نه خو يې څوك در څخه اخيستلی شي او نه ورکيږي.

ښوونکی ستاسې ذهني او معنوي روزنې ته ډېره پاملرنه کوي، نو که څوك غواړي چې د علم او پوهې څښتن او د دنيا او اخرت برياليتوبونه تر لاسه کړي، خپلو ښوونکو ته دې په درنه سترګه وګوري.

وايي چې امام اعظم "رح" په يوه مجلس کې ناست و، يو هلك راغی امام اعظم "رح" د هغه هلك درناوي له پاره ودرېد. چا پوښتنه ځنې وکړه چې: "څنګه دې هلك ته ودرېدې؟ "امام اعظم "رح" وويل: "دا زما د استاذ زوی دی. يو وخت مې دده له پلار څخه يوه مسئله زده کړې وه، که زه د استاذ د زوی درناوی ونه کړم، نو څنګه به له خپل علم او پوهې څخه ګټه واخلم؟"

---

❖ ښوونکی دې د استاد د مقام او درناوي په اړه معلومات ورکړي.

## د وطن ترانه

خـول د آسيـايـې ښکلې هېواده
جنت د مځکـې ښه دې هـــواده

تــر تــا جــارېږو پــر تــا نـــازېـــږو
جـار جـار وطنـه جـار جـــار وطنــه

ســـتا پــه فـضــا کـې غيرت پاشلی
پــه خـــپـلـواکـیـ دې پښتون روزلی

واړه زلـميان دي لـکه زمـريــان دي
جـار جـــار وطنه جــار جــار وطنــه

ستا محبت دی زمونږ په زړو کې
ګـډ مـــو پــه وينه هم په رګو کې

ستا څخه پيدا يو پـــه تــابـــه پـا يو
جــار جار وطــنه جـــار جـار وطنــه

پـــر شنو دښتو دې نسيم چليږي
پـــه لويو غرو دې واورې وريږي

قـــربان مـو وينې تـــر تــا شي مينې
جـــار جـــار وطنه جــــا رجـار وطــنه

---

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د هېواد د خدمت په اړه ځو کرښې وليکي.

# شعـــر او ادب

د انسان په وجود کې دوه شیه ډېر عزیز معلومېږي چې یوه ته زړه او بل ته دماغ وایي. له دماغ نه علم او فلسفه پیدا شوه، لـه زړه نـه شـعر او ادب. اروپا یـان د عواطفـو او نفـس احـوال جـاري ګڼـي، مسلمانان د ایمان او عقیدې ځـای تـه زړه وایـي، صبر، رحـم، کـرم، مېړانه، سخاوت دزړه کار دی.
عشق او مینـه پـه زړه کـې وي. شعر لـه زړه نـه الهـام اخلـي او لـه زړه سره کار لري. داروین وایي: "هغه لوی کمال چې د تحـول او تکامـل په لاره کـې یـوازې د انسان پـه برخـه رسـېدلی دی او نـور ژوي ترینـه بې برخې دي د انسان قلبي عـواطف دي چې پـه رحـم، مـروت، کـرم، مېړانه او نوع پرستۍ ترینه تعبیر کېږي.
که انسان غـواړي چې لـه حیوانیت نـه لـرې وي بایـد دغـه عـواطف وروزي. د عواطفـو روزل د شـعر کـار دی او شـعر تـه د عـواطفـو او احـساساتو د ظهـور او تجلیـاتو نـور ویلـی شـو. څنګـه چـې د لمـر وړانګې او پلوشـې لومړی ځل د لـوړو غرونـو پـه څوکـو پریـوځي او وروستۍ خدای پامـاني هـم د غـرو لـه څوکـو سـره کـوي. دغـسې د عواطفو او احساساتو پریواته هم د شاعر په زړه له نورو څخه زیـات لوېږي او ځینې زړونه لکه د غرو سمڅې او غـارونه دغه رڼـا بیخـي نه ویني یا یې زړه لږه ویني. هغه عـواطف او احساسات چې د شاعر له زړه نه الفاظوته رانقل شي شعر ترې جوړ شي او پـه زړونـو اغېـزه کوي.
هـو! د شـعر موضـوع ښکلـي خیـالات، عـالي احـساسات، د زړه تـاثیرات، د غـم او خوشـحالۍ خوبونـه، د روحـي او جـسمي ښکـلا

اغېزې، عشق او محبت دی. که دغه شیان په یوه ښکلې تعبیر او ښو الفاظو بیان شي چې د فصاحت او بلاغت مراعات په کې په ښه شان شوی وي. شعر ترینه جوړ شي او ډېر ښه شعر هماغه دی چې په دغه معیار برابر وي. څومره چې د یوه شاعر فکر او خیال آزادوي او د محدودیت له قیودو راوتلی وي هغومره یې شعر لوړ وي. که یو شاعر د نورو په شان هر چاته او هر شي ته سر ټیټوي او په فکر کې یې د بغاوت جذ به نه وي موجوده، له هغه نه د ښه شعر هیله نشي کېدای. شاعر باید د فکري انقلاب علمبردار او بت شکن وي.
شاعر ته نه ښایي چې د زاړه منطق درس د عقل د زاړه بوډانه واخلي او زړه لاره او زاړه فکر پسې ولاړ شي. د شاعر خیال باید ډېرلوړ پرواز وکړي او له ډېر هسك ځایه له دغه جهانه وګوري. د شاعر نظر باید نورو غوندې نه وي اوهر څه په بل شان ووینې. د شعر او ادب ژوند د فکر په ابتکار کې دی او تقلید یا ابتذال د شاعر مرګ دی.
هغه څه چې انسان د مادیت له غلامۍ او بت پرستۍ نه ساتي شعر دی. عارفانه ذوق، انساني عاطفه، حکیمانه شعرونه د شعر په نغمو، وده کوي او د حسن د نظر علایق همدغه شی ساتي کوم ملت چې شاعر نه لري، زړه نه لري، سترګې نه لري، عواطف نه لري د ذوق او هیلې له خونده محروم وي.
شاعران دا کولی شي چې د انسان فرعوني غرور په تواضع بدل کړي او د دوهۍ ملنګ ته د شاهجهان خوی او مړې سترګې ور کړي. غم او ښادي د شاعر هدیه ده. چې له زړونو څخه یې اخلي او زړونو ته یې ورکوي. نو کوم قدر او قیمت چې د انسان په بدن کې زړه لري. په ټولنه کې یې شعر او شاعر لري.

# سبا

هغه ورځ چې تر اوسه يې نه د لمر وړانګې د غرونو په سرونو لويدلي دي او نه يې د پيښو او واقعاتو مطلع چاته معلومه ده د سبا په نامه ياديږي.

دا ورځ لکه يوه پټه معشوقه له هر چانه پټه ده او نسيم يې له مخه پوړنى نه دى لرې کړى. دا معلومه نه ده چې دغه ورځ به څه له ځان سره راوړي او څه به له ځان سره يوسي.

د چمن په ګلونو به شبنم ووروي او که ږلى؟ يو آشنا به په سروسترګو له بل نه بېل کړي او که دوه خوارۀ ياران به غاړه غړې کړي. دا ورځ له دغه مجهوليت او معماتوب سره د هر چا په زړه کې محبوبيت لري او هر څوك ورته په هيله ګوري.

دهر چا کار او زيار د سبا ورځې د ښه والي دى او د نن ورځې د عمل نتيجه د سبا ورځې په لمن کې پرته ده. هر څوك هيله لري چې د نن ورځې زحمت به د سبا ورځې په راحت بدل شي او سبا به له نن نه ښه وي.

په همدې سره د ژوندانه ستونزې سپکېږي. او د هيلو مزې غځېږي. د نن ورځې بندي د سبا آزادي په خوب کې ويني او همدغه راز خوبونه د غمونو تله سپکوي.

چا چې نن د خوښۍ او خوشحالۍ ډولۍ کاله ته راوړې هغه يقين لري چې سبا ته به د زوی پلار شي او له دغې خوشحالۍ نه به بله خوشحالي پيدا شي.

دا غولو ونکی سبا هېڅکله نه سبا کېږي او تر قيامته دوام لري. د ژوندانه ټول خوږوالی په همدغه شي کې پټ دی که دغسې سبا ته څه هيله ونه لرو د ژوندانه زغم هېڅکله نشو کولی.

ځمکه او آسمان په همدغه ورځې پسې سر په څېړۍ سرګردانه ګرځي او د اتيا کالو بوډا هم له دغې ورځې نه هيله مند نه دی. که د سبا ورځې مينه زمونږ له زړونو نه راووځي مونږ بيا ژوند نشو کولی. ځکه زړه سړيږي او آرزو ګانې لرې کيږي، که مونږ له سبا سره خپلې اړيکې پرې کړو ډېر تاوان به وکړو او خپل ژوند به فاني وګڼو په دغسې حال کې موږ بيا اوږده اوږده فکرونه نه شو کولی او د هغه سفر چې په مخ کې مو لانه پاته کېږي. د سبا ورځې فکر زمونږ په اخلاقي ژوند کې هم ډېره اغېزه لري او د هر راز مادي او معنوي تر قيادت پورې تړلی دی.

بزګر د همدغې ورځې کر کوي او بڼوال په بڼ کې نیالګي ږدي د خرما زړي په ځمکه کې کرل او د خرما له ونو نه خرما ټولول د هغو کسانو کار دی چې سبا ته هیلې لري او د نن ورځې په تنګه دایره کې ایسار نه دي. او څومره چې د انسان ذهن او دماغ ترقي کړې ده. په هغه اندازه انسان لوړ شوی او پوه شوی دی او له سبا سره یې تعلق زیات شوی دی.

د سبا ورځې غم خوړل، د سبا فکر کول، د سبا ورځې ضرورت او احتیاج په نظر کې نیول، د ډېرو پوهانو او ډېرو لویانو کار دی. زه لوی او کوچنی په همدې پېژنم. چې یو ډېر لرې ګوري او بل ډېر نږدې ګوري. د یوه سبا هم ډېر لرې او د بل لنډ دی. د مسلمان سبا پس له مرګه هم شته دده نظر باید ډېر لرې څار وکړي او ابدي ژوند په نظر کې ونیسي. ابدي ژوند همدغه دی چې سړی له سبا نه بې خبره نه دی او د سبا اندیښنه ورسره وي.

نن او سبا هغه دوه مېلمانه دي چې یوځې او بل یې راځي. موږ له یوه سره وداع کوو او د بل په خدمت مشغولېږو. زموږ خدمت باید د سبا ورځې وي او خپله آینده په نظر کې ونیسو. د عقل او دور اندیشۍ تقاضا همدغه ده.

(د الفت له نثري کلیاتو څخه)

# برابر وېش

دوه موږکان په لاره سره ملګري وو. یوه بل ته وویل:"هر څه چې مو پیدا کول په خپلو منځونو کې به یې برابر وېشو. په پای کې د پنېر خرڅوونکي دوکان ته ورسېدل په دوکان کې یې شپه شوه. دوکان دار د شپې له خوا خپل کورته ولاړ او دوکان موږکانو ته پاتې شو. ګوري چې په یوه کاسه کې د پنېر یوه چکۍ پرته ده. د پنېر چکۍ یې را واخېسته او ویې ویل: "یو درېم سړی باید پیدا کړو چې دا پنېر زموږ په منځ کې برابر ووېشي. مصلحت یې په دې راغی، چې دلته نږدې یوه پیشو ده ورغږ به کړو، چې دا پنېر پر مونږ سم ووېشي. پیشو راغله او موږکانو ته یې وویل:

"دا وېش به زه په سم ډول وکړم، خو یوې تلې ته هم اړتیا شته، چې د چا برخه لږه او ډېره نه شي. ګوري چې په دوکان کې تیاره تله هم پرته وه. پیشو د پنیر چکۍ راواخیسته او په چاړه سره یې پنېر داسې دوه برخې کړ، چې یوه برخه یې ډېره او بله لږه وه. دواړه برخې یې د تلې په پلو کې واچولې، نو یوه پله درنه شوه. پیشو په

كراره سره هغه زيات پنير را پرېکړ او خولې ته يې واچاوه. دا ځل د تلې بله خوا درنه شوه د هغه نه يې هم ډېر پنير را پرېکړ او خولې ته يې واچاوه، درېم ځل بيا بله پله درنه شوه، بيا يې پنير را پرېکړ خولې ته يې واچاوه. اخر په يوه تله کې لږ پنير پاتې شو، نو پيشو وويل: "دا يوه مړۍ پنېر به هم زه په خوله کړم." هغه يې هم وخوړ موږکانو په خپلو منځو کې يو بل ته وکتل بيا يې پيشو ته وويل: "دا څنګه وېش او قضاوت و؟ "پيشو ورټوپ کړ او دواړه موږکان يې وخوړل اوله ځان سره يې وويل: "دا ساده ګان ګوره، چې تر اوسه هم خپل دوست او دښمن نه پېژني"

---

سپارښتنه:

- ښوونکی دې زده کوونکو ته د پورتنۍ کيسې په اړه پوره څرګندونې وکړي.

# ای زما وطنه

ای زمـا وطـنـــه د لالـــونــو خـزانــې زمــا
ستـــا هـــره دره کـــې دي د تــورو نښانې زما

❈❈❈

زه یم ستا د خاورې ته زما د مینې جـوړه یې
ته مې د غـیرت او د پښتو رنګینې جـوړه یې
ته مې د نیکه او د بــابا د وینې جوړه یــې
ستا زړه کې ویدې دي ټولې تلې زمانې زما
اې زما وطنه د لالونو خزانې زما

❈❈❈

سترګې مې لوګی شه ستا د خاورو د کورونونه
عقــل مـــې ایـرې شــه ستا دپاره د فکرونو نه
جار شمه قربان شم ستا دغـرونـو نـه سیندونونه
ستـــا هـــره دره کـــې دي د تــورو نښـانــې زمـا
اې زما وطنه د لالونو خزانې زما

❈❈❈

ستـــا عـزت چـــې نــه وي زه به نوم او عزت څه کړمه
ته چې خوار اوزار یــې زه به خوب او راحت څه کړمه

ستا سر چې وي ټيټ نو به زه شان او شوکت څه کړمه

مستــه بــه دې خــاوره کــړم پــه وينې مــســتــانــې زما

اې زما وطنه د لالونو خزانې زما

❁❁❁

يـــا خــوبــه دې ســيــال کــړمه وطنه د جهان

يا به ستا په پښو کې تورې خاورې کړمه ځان

زه بــه دړې وړې شــم خــو تــا بــه کــړم ودان

نــريــمــه پــښــتون يــم تــا ته يادې افسانې زما

اې زما وطنه د لالونو خزانې زما

❁❁❁

(غني خان غني)

---

سپارښتنه:

- ښوونکی دې پورتنی نظم ولولي، او په مطلب باندې دې خبرې وکړي.
- نوي لغتونه دې معنا کړي.
- زده کوونکي دې يو يو بيت ولولي او په مطلب دې خبرې وکړي.

# سوله

سوله ډېره خوږه کلمه ده چې د انسانانو تر منځ مینه او محبت پیدا کوي او د خلکو له پاره په ټولنه کې د سوکا له ژوند زمینه برابروي. او ددې پر خلاف دښمني د خلکو تر منځ عداوت او ناوړه تفاهم را پیدا کوي.

نو د دې له پاره چې وکولی شو په ټولنه کې آرام، سوکاله او آسوده ژوند وکړو ښه دا ده چې په سوله او وروروليې کې له نورو خلکو سره ګډ ژوند وکړو. او د نورو په خوشحالۍ خوشحاله شو. او په غم يې خپه او غمجن شو. زموږ ګران وطن کابو درې لسيزې کيږي چې په جنګ او جګړو اخته دی. د دې جنګ او جګړو له امله زمونږ ډېر شيان يا له منځه تللي او يا د له منځه تلو په حالت کې دي. خو زموږ زياتو ځوانانو ته زيانونه رسېدلي دي دا ځکه چې دوی له سالمې ښوونې او روزنې څخه بې برخې شول په نتيجه کې يې په اګاهانه او غير آګاهانه ډول د ټوپك او دجنګ خواته مخه وکړه.

او په دې لاره کې زياترو خپل ژوند له لاسه ورکړ. خو په اوسني وخت کې د ځوانانو اصلي او سياسي دنده دا ده چې دلوست او زده کړې په خاطر ښوونځيو ته لاړ شي. او ښه زده کړه تر لاسه کړي

د خپل وطن په آبادۍ کې د خپلې پوهې په برکت د کار په کولو کې برخه واخلي. خپل ځان او وطن د علم او پوهې په ډګر کې له نور جهان سره برابر کړي. او د سولې او ورورۍ فضا په خپل کور، وطن او ښوونځي کې ټینګه کړي.

---

سپارښتنه:

- ښاغلی ښوونکی دې زده کوونکو ته د سولې په هکله خبرې وکړي او کورنۍ دنده دې ورکړي.

# وطن وايي

واوره ای پښتونه زه مـیراث ستا د نیکـو یمه
ستا ښکلې زانګو یـم ادیره ستا د پلـرو یمه

خاورې مې مه بوله په ښه سترګه راتـه ګوره ته
خاورې که هم یم ستـا د نیکونو د سـرو یمه

ښه ښایسته لالونه سره یاقوت مې په لمن کې دي
ښکلې مـنـظره له ګلو ډکه د لېدو یمه

ته مې په خپل سیوري کې لـوی کړی او روزلی یې
شین او سمسور باغ ډك د ګـلانو او میوو یمه

ښې سپیني خوږې یخې اوبه مې د شېدو په ځای
تـاسـې تـه درکـړي مـور د ټولو پښتنو یمه

میندې لري زړه کې امیـدونه خپل اولاد سره
ځکـه زه نـن تـاتــه پــه امیـد او په اسرو یمه

غواړم چې تا هم لـکه د تېرو پښتنو په شان
ووینم میدان کـې ننګیالی په دې ارزو یمه

خـــاوره او هوا مې له غيرت او ننګه ډکه ده

وايي ننګ غيرت دې زه وربمه ستــاسې د غرو يمه

نه تېتوي هېڅکله پښتون دبل په مـخ کې سر

ځکه زه سر لوړی نن په مخ کې د مــــــلکو يمه

و ېره دپښتــون لــه مرګـه نشته تېنـګ ايمان لري

زه له کاڼو جوړه د غيرت او ننګ زانګو يمه

کلك عزم له سره تېرېدل په خپل ناموس باندې

ښيمه پښتون ته ډك لـه داسـې تـاثيرو يمه

څوك مې که پوره حقيقت غواړي په سندروکې

زه "الفـت" ستايلی په خوږو خوږو نغمو يمه

(ګل پاچا لفت)

---

## سپارښتنه:

- ښوونکی دې د پورتني شعر يو يو بيت په هر زده کوونکي باندې سم ولولي. او بيا دې د شعر په مفهوم خبرې وکړي.

# ژوند

د یوې چینې اوبه دي، څوك یې د زرو په جام کې څښي، څوك یې د خاورو په کنډولي کې، هغه چې نه دا لري، نه هغه، په لپه کې یې را اخلي. په اوبو کې هېڅ فرق نشته، فرق په لوښو کې دی، د شاه او ګدا فرق په لوښو کېږي. د اوبو په خوند، هغه څوك ښه پوهېږي چې ډېر تږی وي. هغه لاروی چې له بیابانه ستړی ستومان راځي او تنده یې ډېره زیاته ده دا اوبه خوند ورکوي. هغه دهقان چې په سره غرمه کې یوې کوي، او خولې پرې را ماتې وي، دا اوبه د هغه له پاره ډېر لوی نعمت دی.

یو شپون چې له غره نه تږی راکوزېږي، او په چینه باندې خوله ږدي د اوبو په خوند ښه پوهیږي. یو بل سړی چې یخ سیوري ته په آرامه څوکۍ ناست دی، ښایسته صراحي یې له څنګه ایښې ده او په ښو ګیلاسونو کې اوبه څښي، له اوبو نه هغه خوند نشي اخیستلای، هو! ده دلارو یو اوشپنو تنده نه ده لیدلې، په سره او تکنده غرمه کې یې لو نه دی کړی ځکه هغه تلوسه په ده کې نشي پیدا کېدلی.

چا چې لوږه او تنده نه ده لیدلې، هغه دخوړو او اوبو پوره خوند هم نه دی لیدلی. او د ژوند په کیف نه دی پوه شوی.

"د الفت له غوره نثرونو څخه"

---

سپارښتنه:

- ښوونکی دې متن په زده کوونکو باندې ولولي. او څو زده کوونکي دې دمتن په مطلب خبرې وکړي.
- ښوونکی دې د متن له مخې په زده کوونکو باندې څوکرښې املا ولیکي.

# نوي نسل ته پیغام

اې د پاك وطن فرزنده / اې د قام خوږه دلبنده

اې د نوي ژوند پیغامه / اې ارزو د وطن قامه

د افغان د باغ سنبله / د پښتون د بڼ بلبله

سبا ته مسئول د کاريې / که ته مور او که ته پلار يې

ښه اخلاق او علم زده کړه / هله هله تلوسه کړه

علم هر چا له پکار دی / نه چې تش د نرو کار دی

ښځه، نر دواړه مسئول دي / خو په ښه عمل مقبول دي

د حيات په هنګامه کې / د ژوندون په افسانه کې

دواړه يو بل ته محتاج دي / يو وبل ته د سرتاج دي

يو خاوند بله مېرمن ده / له قديمه نه چې نن ده

هرازاد دواړه ابنادي / د آدم او د حوا دي

يو او بل ته احترام کا / که باور د خدای ﷻ په نام کا

---

سپارښتنه:

- ښوونکی دې د شعر په مفهوم باندې رڼا واچوي او لغتونه دې معنا کړي.
- ښوونکی دې پورتنی شعر په زده کوونکو باندې ولولي.

# پاړکی

ته چې ځـان ته هوښیــار وایې هوښیار نه یې

ځکـه پوه دې پـه خپل ژونــد او روزګار نه یې

د قانون او شـریـعــت خبــرې تــل کـړې

ته پوره اګا د شـرعـــې پـــه لار نــه یې

پــه ژونــدون کـــې دې د هـرمـــرض دوا شـه

پـس لـه مـرګـه به دهیچـا پـه کار نه یې

که نیکي کړې که بدي کړې دادې وخت دی

بیا راتلونکی په دې ځای کې دو بار نه یې

تمـام عـمـر دې عـبـث شـو (رمـضـانـــه)

تـــه لا مـــوړ ددې دنـیــا پـه بـازار نه یې

(رمضان)

---

سپارښتنه:

- ښوونکی دې د پورتني شعر په مفهوم خبرې وکړي.
- زده کوونکي دې د شعر یو یو بیت په خپلو کتابچو کې په نثر واړوي.

# ملي یووالی

زموږ ګران وطن افغانستان په اوسنیو شرایطو کې تر هر څه دمخه ملي یووالي ته ډېره اړتیا لري. دا ځکه چې کابو درې لسیزې کیږي چې په دې خاوره کې د اتفاق او یووالي په ځای بې اتفاقي او دښمني رامنځته شوې ده.

همدا وجه ده چې زموږ د هیواد وګړي په مختلفو اشکالو خپلو منځو کې لاس او ګریوان دي او په خپلو کې سره جنګېدل ان تر دې حده چې د وطن اقتصادي، عرفاني، کلتوري او اداري تاسیسات چې د ټول ملت مال دی بیخي له منځه تللي دي او یا د منځه تللو په حالت کې لېدل کېدل.

خو د پاك خدای ﷻ په برکت یوځل بیا دوی ته د سولې او ورورولۍ فضا په لاس ورغله. چې ددې برکت او رڼا په اساس د ښوونې او روزنې زمینه زمونږ د ګران وطن بچیانو ته یو ځل بیا چمتو شوه، څو د وطن پیغلې او زلمیان وکولی شي د سولې او یووالي په فضا

کې زده کړه وکړي او د ټوپك او جنګ د کلتور پرځای بیا ښوونځي ته مخه او له وخت څخه په خپله ګټه کار واخلي هغه خلك چې ددې هېواد د اسلامي اصولو په اساس تر یوه بیرغ لاندې سره یو ځای شوي دي ټول د دې هېواد وګړي بلل کېږي

او هېڅ څوك د رنګ، قومیت او ژبې په اساس یو پر بل برتري نه لري.

او ټول ددې ملت وګړي ګڼل کېږي، که دوی د متقابل درناوي په اساس یو له بل سره ګډ ژوند وکړي کولی شي خپل وطن ډېر ژر آباد کړي او خپل بچیان د سالمې ښوونې او روزنې خاوندان وګرځوي په خپلو کې ټینګ ملي یووالي وساتي.

---

سپارښتنه:

- ښوونکی دې د ملي وحدت په اړوند زده کوونکو ته پوره معلومات ورکړي.
- زده کوونکي دې د ملي یو والي په اړه یوه لنډه مقاله ولیکي.

١٦ جوزا ١٣٨١
د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون

# د وينا آزادي

حضرت بي بي زينب ( رض ) د اسلامی تاريخ له ډېرو نامتو ښځو څخه ده . په بشری تاريخ کې يې د حق او رښتينولۍ په لار کې بې ساري هڅې او ټينګار کړی دی. په کربلا کې يې د بنديتوب او د بنديتوب په حالت کې يې شام ته له لېږدونې وروسته د يزيد په مخکې دا خطبه وويله: ((ای د ابو سفيان زويه! که څه هم ته نن زموږ وژل او بنديتوب غنيمت ګڼی او پری وياړی ،خو تر ډېره به نه وي او ډېر ژر به پښېمانه شي.

هغه به داسی ورځ وي چې څه دې کړي هغه به و ويني. ای يزيده! دا چې ځمکه او آسمان دې پر موږ تنګ کړي او مونږ بنديان له يو ځای څخه بل ځای ته وړې، دا ګومان کوې چې موږ خدای ﷻ ته خوار او سپک شوي يو او ته ورته نږدې شوی يې؟ او په دغه خام او له کبره ډک تصور خوښ يې؟ دا چې نړۍ دې ودانه شوی او ټولې چارې ستا په خوښه تر سره کېږي ، خو له آخرت نه خبر نه يې.

۱٦ جوزا ۱۳۸۱
د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون

*هرڅوک حق لري چې دهیواد په ټولیزه اداره کې برخه واخلي.*

..............................................

دافغانستان اتباع داټتخابولو او اټتخابیدلو حق لري.

(دافغانستان داساسي قانون له دري دیرشمې مادې څخه)

هرڅوک حق لري چې دخپل هیواد دټولیزو چارو په اداره کې، په مستقیم ډول او یا هم دخپلو استازو له لارې چې په آزادانه ډول ټاکل شوي وي ګډون وکړي.

(دبشري حقونو دنړیوالی اعلامیې یوویشتمه ماده، لومړی بند)

# حقــايــق

چاچې خپل قدر په خپله وکړګُله! ستاره د هغــه قوم په عروج شوله

خدای هم نـه بـدلـوي حال د هغه قــوم ځوك چې نه بدلوي خپل حالت په خپله

تا تـه ښايي په خپـل لاس موقـع پـيـدا کـړې انتظار د مـوقع چـېرې دانا نــه کړي

تــه نــازکړې چې بـدل کړی زمانـــې يم مرد هغه دی چې بــدلــه زمــانه کړي

مستقبل وحــــال حاصـل ستا د تد بير دی ته جهد وکـړه ستا په لاس کې ستا تـعبير دی

تا پــه خپلـه په ځان هسې چارې وکــړې بر نا حق دې بـد نام کــړی خپل تـقـديـر دی

د حـاسد خونـه لـه غمـه خالي نـه شوه طامـع چـېرې نصيب خـوشحالي نــه شوه

چې په کم نظر د خدای مخلوق تـه ګـوري مرتبه د هـغـو خلکـو عـالي نه شـوه

ګـوره ونـه په هغـو هم سيوری کانـدي چې لــه بېخه يــې وهـي په تــبر باندې

تــه سړی يې لــه دښمــن سره بـد مـــکړه په احسان سره يې کړه تر قابو لاتــدې

چې سړی وي هغـه هېڅ وخت وزګــار نـه وي د هـغـه ژونـدون په چـا بانـدې بارنه وي

هـر يـو کار کـه تـه همت وکـړې آسان دی کــار لــه دې کــاره ګـران نشته چې کار نه وي

(فضل احمد افغان)

---

سپارښتنه:

- ښـوونکی دې د لوست پـه پـای کې لـه زده کوونکـو څخـه وغـواړي، چې د حقايقو په اړه خپله پوهه بيان کړي.

## ښه ژبه

ژبــه عــادت کــړه په ښو خبــرو
خبرې ښې دي، ښې تر شکــرو
د خوند مثال یې شکرې وایــم
قدر یې ډېر دی تــر مــلغـلرو

(عبد القادر ختک)

## متل

که تا ویل چې زه یم او ما ویل چې زه یم
نه به ته یې، نه به زه یم
که تا ویل چې ته یې او ما ویل چې ته یې
هم به زه یم هم به ته یې.

---

سپارښت:

۱- پورتنی متل یاد کړئ.

## متلونه

۱- اوبه په ډانګ نه بېلېږي.
۲- دروغجن هېر جن دی.
۳- کوږ بار تر منزله نه رسېږي.
۴- ترخه خوره؛ خو ترخه مه وایه.

---

سپارښتنه:

- ښوونکی دې دپورتنیو متلونو په اړه او معنا زده کوونکو ته کورنۍ دنده ورکړي.

# د مطالعې له پاره کتاب غوښتل



ګران او محترم وروره نصرت الله!

السلام علیکم و رحمت الله و برکاته

وروره! ددې لیك تر لیکلو پورې دلوی څښتن تعالیﷻ په لورېینه او مهربانۍ سره روغ او جوړ یم. ستاسې روغتیا او خوښي له الله تعالیﷻ څخه تل غواړم.

د قدر وړ وروره! زمونږ کلنۍ ازموینه پیل شوې ده، د راتلونکې سه شنبې په ورځ د دینیات مضمون ازموینه لرم. هیله کوم، چې ژر تر ژره د نهم ټولګي د دینیات کتاب راواستوې، چې ازموینې ته چمتووالی ونیسم او لسم ټولګي ته بریالی شم. زما له خوا ټولو دوستانو ته سلامونه ورسوه.

په درنښت ستا ورور جاوید کریمي

لاسلیك:

---

ګرانو زده کوونکو!

- پورته لیك په خپلو کتابچو کې ولیکئ.
- خپل ملګري ته د مېلمستیا بلنلیك ولیکئ.

# د لویانو خبرې

ـ له ټینګې ارادې پرته استعداد وجود نه لري.
ـ د هر سړي د بریالیتوب راز په اراده کې دی.
ـ حقیقي عدالت په عمل کې پروت دی.
ـ د انسان ښه ملګری کتاب دی.
ـ هر څوك چې ګټور کتاب له منځه یوسي، انسان یې وژلی او څوك چې انسان وژني نړۍ وژني.
ـ ډېره مطالعه وکړئ، څو پوه شئ چې هېڅ نه پوهېږئ.
ـ زه پرته له کتاب څخه ژوند نشم کولی.
ـ انسان د نېکمرغۍ له پاره پیدا شوی او نېکمرغي د کار په وسیله لاس ته راځي.
ـ هر څوك چې ادب نه لري، عقل نه لري.
ـ کله چې انسان د پرمختګ (ترقۍ) ضد وینم افسوس کوم.
ـ بې عمله عالم بې شاتو مچۍ ده.
ـ د زده کړې له پاره هېڅکله ناوخته نه دی.
ـ پوه هغه څوك دی، چې له خپلو تجربو څخه پند اخلي.
ـ بریالیتوب د هغه چا په برخه دی، چې ایمان لري.
ـ د آزادۍ ونه هغه وخت وده کوي، چې د ظالمانو په وینو خړوبه شي.
ـ پوه یې په بل زده کوي او ناپوه یې په ځان.

---

❖ ښوونکی دې زده کوونکو ته د پورتني درس مفهوم او معنا پوره شرح کړي.

# کار وکړئ، سوال مه کوئ



یوه ورځ محمود له خپل پلار سره روان و، یو هلك د دوی په مخه ورغی، سوال یې ترې وکړ. د محمود پلار ترې تېر شو، خو محمود ورته د جېب نه دوه روپۍ را وایستې او ور یې کړې، چې لږ څه مخکې لاړل، پلار یې محمود ته وویل: "بچیه! خیرات ورکول ډېر ښه کار دی؛ خو ړانده، شل، ګوډ، مسافر او ناروغ ته خیرات ورکول ډېر ثواب لري.

زه هره ورځ دغه هلك وینم، چې په سوال پیسې غواړي. په سوال کولو روزي لاس ته راوړل ښه کار نه دی.

زموږ پیغمبر حضرت رسول اکرم ﷺ داسې لارښوونه کړې ده، چې " خپله روزي د کار او زیار په وسیله وګټئ، سوال مه کوئ او له بل چا څخه په سوال څه مه غواړئ"

له "حضرت انس ﷺ څخه روایت دی، چې یو انصاري د رسول اکرم ﷺ حضورته راغی او ورته ویې ویل: "ای د الله ﷻ حبیبه! ماته څه راکړه؟

رسول الله ﷺ ورڅخه پوښتنه وکړه، چې په کور کې څه نه لرې؟

سوال ګر وویل: زه په کور کې دوه شیان لرم، یوه شړۍ ده، چې یوه برخه یې اغوندو او بله برخه یې هوار وو. بله دلرګي کاسه ده، چې اوبه په کې څښو. "حضرت رسول اکرم ﷺ وفرمایل: هغه دواړه راوړه" سوال ګر دواړه راوړې. حضرت رسول اکرم ﷺ دواړه په مبارك لاس کې ونیولې او ویې ویل، چې دا دواړه څوك اخلي؟ یوه سړي وویل: "دا دواړه زه په یوه روپۍ اخلم "حضرت رسول اکرم ﷺ دوه یا درې ځلې وفرمایل، چې څوک یې له یوې روپۍ څخه ګران اخلي؟

بل سړي وویل: "زه یې په دوه روپۍ اخلم. رسول الله ﷺ دواړه په دوه روپۍ خرڅې کړې او روپۍ یې انصاري ته ورکړې او ورته ویې ویل: "په یوې روپۍ خوراکي شیان واخله خپلو کوچنیانو ته یې یوسه او په بله روپۍ تبر واخله او ماته یې راوړه.

انصاري تبر راوړ او حضرت رسول اکرم ﷺ ورته په خپلو مبارکو لاسونو په تبر کې لاستی واچاوه، بیا یې ورته وویل: "ځه لرګي وهه او خرڅوه یې او پنځلس ورځې دې ونه ګورم. انصاري لرګي وهل او خرڅول یې. انصاري پنځلس روپۍ سپما کړې وې.

چې د رسول اکرمﷺ حضور ته راغی، په څه اندازه پیسو یې جامې اخیستې وې او په څه روپو یې خوراکي شیان رانیولي وو.

د اللهﷻ حبیبﷺ ورته وویل: "داکار کول تاته له سوال کولو څخه غوره دي، ځکه سوال کول به د قیامت په ورځ ستا پر مخ تور ټکي وګرځي. "مشکوة شریف"

رسول اللهﷺ ته دا سخته نه وه، چې سوال ګر ته یې روپۍ ورکړې وای، خو حضرت رسولﷺ دا نه غوښتل چې مسلمانان دې په سوال کولو روږدي شي.

مسلمانان باید له سوال کولو څخه ځانونه وژغوري او تل دې له خپلو متو څخه کار واخلي.

---

سپارښتنه:

- ښوونکی دې د کار اهمیت د اسلام له نظره زده کوونکو ته بیان کړي اود وزګارتیا نتیجې دې هم ورته بیان کړي او له زده کوونکو څخه دې دا لاندې پوښتنې وکړي او په ځواب ورکولو کې دې مرسته ورسره وکړي.
- حضرت محمدﷺ د کار کولو په اړه څه فرمایلي دي؟
- حضرت محمدﷺ له سوالګر سره څه چلند وکړ؟

# عبد الرحمان بابا

د پښتو ژبې يو نوميالی اديب او صوفي شاعر و. د پلار نوم يې عبد الستار او په (۱۰۴۲ هـ ق) کال د پېښور په بهادر کلي کې زېږېدلی دی.

د عبد الرحمان بابا د پېژندنې له پاره همدومره بس دي چې ټول خلك ورته بابا وايي.

عبد الرحمان بابا د اشعارو يو دېوان لري، چې د عبدالرحمان باباد دېوان په نامه يادېږي. عالي او لوړ مضامين يې په ساده، ښکلو او خوږو الفاظو کې بيان کړي دي. هغه خوند او لطافت، چې د دغه شاعر په اشعارو کې شته، د پښتو ژبې د نورو شاعرانو په اشعارو کې ډېر کم ليدل کېږي.

که څه هم عبد الرحمان بابا په يوه غريبه کورنۍ کې پيدا شوی و او په خپله هم غريب و، خو دې غريبۍ هېڅکله دده لوړ همت ټيټ کړی نه دی او نه يې بې له الله ﷻ د هيلې او مرستې لاس بل چاته اوږد کړی دی. لکه چې وايي:

ځوك دې را كاندي قسم په كردګار

که درم لرم په کـور کـې یـا دینار

زه درم او دینار نلرم پـه کـور کې

ولـې نـور عـالـم مـې بولي دنیادار

دا په دا چې نـه لـه ځایه چېرته خوځم

نه د هیڅ یـوه مـخلـوق یم منت بار

دغـه نـامتو شـاعر او ادیـب پـر (۱۱۲۸) هـ ق كـال لـه دنیـا څخـه سترګې پټې كړې دي. د رحمان بابا زيارت د پېښور دهزار خانې په هديره کې دى.

---

سپارښتنه:

- ښـوونکی دې د درس پـه پـای کـې زده کوونکـو تـه وخـت ورکـړي، چې د عبد الرحمان بابا درس په ځير سره مطالعه كړي او بيـا دې لـه زده كوونكـو څخه وغواړي، چې په وار سره د عبد الرحمان بابا په اړه خبرې وکړي.

# د عبد الرحمان بابا

## د کلام بېلګه

کر د ګلو کړه چې سیمه دې ګلزار شي
اغزي مه کره په پښوکې به دې خار شي

ته چې بل په غشو ولې هسې پوه شه
چې همداغشی به ستا په لور ګوزار شي

کوهي مه کنه د بل سړي په لار کې
چېرې ستا به د کوهي په غاړه لار شي

ته چې بل چاته په خوارو سترګو ګورې
لاړومبی به ستا صورت تر خاورو خوار شي

آدم زاد په معنا واړه یو صورت دی
هر چې بل آزار وي هغه آزار شي

نن چې صبحه ده روښانه لار صحیح کړه
ناګهانه به دا صبحه شب تار شي

که بل بدکاندي ته ښه ورسره وکړه
هر یو نخل چې مېوه لري سنګسار شي

هغـه زړه بـه لـه تـوفانـه پـه امـان وي

چــې کښتۍ غوندې د خلکو باربردار شي

دمـات لـوښــي آواز کـلــه ثـابـت خېژي

د هر چا عمـل څرګند پـه خپل ګفتـار شــي

خـدای دې بـدله لاسه نـه کا او که وي هم

د رحمان دې لـه کـل بـدو اسـتـغـفار شي

(عبدالرحمان بابا)

سپارښتنې:

- ښوونکی دې زده کوونکو ته څرګنده کړي، چې د عبد الرحمان بابا پـورتنی شعر یاد کړي او د خپلو ټولګیوالو په وړاندې یې ولولي.
- زده کوونکي دې په وار سره یو یو بیت ولولي او معنا دې کړي.

# حریص تل بې برخې وي

د لوی اختر ورځ وه، مسلمانانو قربانۍ کولې، یوه حریص سړي وویل چې لومړی به ولاړ شم، د نورو کلیو غوښې به راټولې کړم. د خپل کلي غوښې خو مې خپلې دي.

رهي شو، بل کلي ته ورغی. هغوی غوښې وېشلې وې. څه نه وو، چې وریې کړي، خالي لاس خپل کلي ته راغی. دلته هم خلکو غوښې وېشلې وې، هېڅ نه وو پاتې. حریص د خپل حرص په سبب محروم پاتې شو. هر څوک چې حرص کوي، صبر، قناعت او بسنه نه کوي، محروم پاتې کېږي.

## څلوریزه

د حـریـص کـاسـه چـپـه ده

لاس یې تش خوله یې سپېره ده

د قـانـع ډودۍ پـخـه ده

لاس یې ډک خوله یې خـوږه ده

---

**پوښتنه:**

۱. له پورتنۍ کیسې څخه مو څه نتیجه واخیسته؟

**سپارښتنه:**

- ښوونکی دې ګرانو زده کوونکو ته دحرص او قناعت په اړه څرګندونه وکړي او بیا دې له زده کوونکو څخه وغواړي چې د حرص او بسنې په اړه خپل معلومات بیان کړي.

# متلونه

۱- کبر جن د الله ﷻ دښمن دی.

۲- دغنمو له امله ځوز هم اوبه کېږي.

۳- اور ته خپل او پردی یو دی.

۴- د ډېرو امسا د یوه ګېډه ی دی.

۵- خپل عمل د لارې مل دی.

۶- لمر په دوو ګوتو نه پټېږي.

۷- خپله لاسه، ګله لاسه.

۸- چې تېر شو، هغه هېر شو.

۹- کېږدۍ په خپلو مراندو ولاړه ده.

۱۰- دتورې پرهار به جوړشي، خو د ژبې پرهار نه جوړېږي.

۱۱- که شپه تیاره ده، مښې په شمار دي.

۱۲- مېړونه مري، خو نومونه يې پاتې کېږي.

۱۳- کارغه د زرکې تګ کاوه، خپل ترې هېر شو.

۱۴- چې څه کرې، هغه به رېبې.

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې د متلونو د کارولو ځایونه زده کوونکو ته ور وښيي.
- ښوونکی دې زده کوونکو ته د کورنۍ دندې په توګه د نورو متلونو د راوړلو لارښوونه وکړي.

# لیکوالي

کله چې سفر ته ځو، له کورنۍ او خپلوانو څخه لرې کېږو، نو د کورنۍ غړي او ملګري مو د لیك د رسېدو لاړ څاري او غواړي چې له احوال څخه مو خبر شي.
که چېرې زموږ له ملګرو څخه څوك په روغتون کې بستر وي او موږ ونه شو کولی، چې له نږدې څخه د هغه د ناروغتیا پوښتنه وکړو او ونشو کولی، چې ملګرو او خپلوانو ته له نږدې څخه د اختر مبارکي ور کړو، نو په داسې وختونو کې دناروغ د احوال پوښتنې یا د اختر مبارکۍ له پاره لیك استوو. څو د خپلوۍ او ملګرتیا دنده مو پرځای کړې وي.
همدا ډول که هیله ولرو، چې په یو دفتر یا اداره کې کار وکړو، نو بیا هم موږ ته په کار دي چې یو غوښتنلیك ولیکو او یا وغواړو د کومې پېښې په اړه چاته معلومات ولیکو، په دې ټولو مهالونو کې د لیك لیکلو ته اړتیا پېښېږي. لیك او لوست د ژوندانه له لومړیو اړتیاوو څخه دي.

---

سپارښتنه:

- ښوونکی دې زده کوونکو ته وخت ورکړي، چې د لیك اولیکوالي درس په ځیر سره ولولي او په خپل وار سره یې مفهوم په خپله ژبه بیان کړي.

# د لیک ډول

د لیك د لیکلو له پاره یوازې، زده کړه، کاغذ ، قلم او پاکټ بس نه دي. دا ټول د لیك لیکلو او یوځای ته یې دلېږلو وسایل دي، خو خپله د لیك لیکنه ځانته دود او لارې چارې لري، چې ښایي هغه زده کړو ښه او بشپړ لیك هغه دی، چې نېټه ، نوم، کورنی نوم یا تخلص، پته، د اخیستونکي سر لیك، دلیك متن او د لیکونکي لاس لیك ټول پکې موجود وي.

د لیك نېټه له دود سره سم د لیك په سر کې کینې لور ته لیکل کېږي. د لیك نېټه باید بشپړه ولیکل شي.

د ساري په توګه د (۱۳۶۴) کال د تلې د میاشتې دویمه نېټه، په ځینې ځایونو کې د لنډیز له پاره نېټه داسې لیکل کېږي ۱۳۶۴/۷/۲ که یو داسې چاته لیك لیکو، چې هغه موږ ښه پېژني، نو هغه زموږ د نوم په لوستلو چې دلیك په پای کې وي،پوهېږي چې دا لیك چا لیکلی دی؟

مګر که داسې چاته لیك لیکو، چې له موږ سره بشپړ اشنا نه وي یا لومړی ځل وي، چې لیك ورته استوو، نو ښه به دا وي، چې د خپل نوم تر څنګ یوه بله خبره هم ولیکو، څو د لیك، لوستونکی موږ پوره وپېژني. د ساري په توګه زرغون، د امام ابو حنیفه "رح" د ښوونځي سر ښوونکی او نور.

ځینې خلك خپل نوم او پته یوازې د پاکټ پرمخ لیکي. که پاکټ ورك شي یا د پاکټ پرمخ لیك تور یا توري وران شي، بیا دلیك

ځواب ورکول د نوم او پتې د نشتوالي له امله ګرانېږي، نو ښه به دا وي چې تل نوم او پته په ليك کې هم وليکو.
د ليکونکي د نوم او پتې د ليکلو ځای د ليك په پورتنۍ برخه کې دی. د ليك اخيستونکي نوم تل د ليك په سر کې ليکل کېږي او هغې ته سر ليك ويل کېږي. د درناوي او مينې هغه کلمې، چې ليك اخيستونکي ته ليکل کېږي، ځينې يې په لاندې ډول دي:
ګرانه وروره، ګران او قدرمنه وروره، ښاغلی، پیاوړی ورور، مهربانه پلاره، زړه سوانده پلاره، ګرانې او خوږې مورې، ترورې، د زړه سره زويه، د زړه ټوټې لورې زما د هيلو غوړېدونکې لورې او زويه، پوه او عزتمنده استاذه او نور.
د پوستې د پاکټ په شا باندې دليکلو يوه بېلګه:
ليك ددې له پاره ليکو، چې يو چاته معلومات ورکړو يا کومه پته له چا څخه وغواړو، يا غواړو چې يوې موضوع او پېښې ته يو څوك ښه ځير کړو، کله چې غواړو چاته ليك واستوو، که هغه له موږ سره يو ځای وي، نو ليك ليکلو ته اړتيا نشته او د ليك مطلب بايد په خوله ورته ووايو. په خبرو کې ښايي مطالب له موږ څخه وړاندې او وروسته شي يا ځينې مطالب تکرار شي. کله داسې هم کېدای شي، چې د خبرو په وخت کې دهغه مطلب له پاره چې زموږ په اړه دی، مناسبه جمله او کلمه خولې ته رانشي، خو دليکلو په وخت کې څرنګه چې وخت زيات لرو، په هر مطلب کې ښه فکر کوو او د خپل مطلب د ښکاره کولو مناسبې کلمې ټاکو اود کلمو له تکرار څخه ډډه کوو. د ليك ليکل تل له سر ليك څخه لاندې

پیلیږي. د سر لیك او لیك د لومړۍ کرښې تر منځه واټن باید د نورو کرښو له واټن څخه ډېر وي.

د لیك په لیکلو کې دکاغذ د سپینو څنډو پرېښودل ضرور دي. یوه ښه لیکنه باید د کاغذ په دواړو خواووکې سپینه څنډه ولري، سپینه څنډه لیك ښکلی کوي او لوستل یې هم اسانه کېږي.

په لیك کې د لاندې موضوعګانو یادونه اړینه ده:

۱- هره نوې موضوع باید دکرښې له سر څخه پیل شي.

۲- د نوې موضوع لومړۍ کرښه باید له نورو کرښو څخه لرې والی ولري.

۳- د لیك په لیکلو کې باید د زیاتو خبرو له لیکلو څخه په کلکه ډډه وشي.

۴- عبارتونه د هر لیك او دهر چا د مقام، شخصیت او حیثیت سره سم ولیکل شي.

ددې عبارتونو د لیکلو ځای د لیك له ختم څخه یوه کرښه لاندې وي د ساري په ډول:

ستاسې دوست، ستاسو د لیدلو لاړ څاري.

ستا د بریالیتوب په هیله، په درناوي.

د درناوي په وړاندې کولو، د افغانستان د ابادۍ او ستاسو د بریالیتوب په هیله او نور. د بېلګې په ډول دا لاندې لیك، چې بریالي خپل پلار ته لیکلی دی او په هغه کې یې د خپل بریالیتوب زېری ورکړی دی، په ځیر سره ولولئ او ګټه ترې واخلئ.

---

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې د متن په مطلب یو د بل سره خبرې وکړي. بیا دې یو زده کوونکی د متن په مفهوم معلومات وړاندې کړي.

# پلار ته لیك

د (۱۳۸۲) کال د تلی ۳۰ مه نېټه




ګرانه او مهربانه پلاره!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته.

زه د څښتن تعالی په فضل روغ رمټ یم. ستاسو روغتیا او سلامتیا د لوی الله ﷻ له دربار څخه غواړم. زما د درنې مور او ګرانې خور ګلالۍ له خوا هم ډاډه اوسئ شکر روغې او جوړې دي.

ګرانه پلاره! یوه اونۍ مخکې زموږ کلنۍ ازموینه پای ته ورسېده. د لوی الله ﷻ په لورېینه او ستاسو د دعاوو په برکت زه په کلنۍ ازموینه کې بریالی شوم او له نهم ټولګي څخه لسم ټولګي ته ولاړم، ددې له پاره چې د رخصتۍ په دربو میاشتو کې بېکاره پاتې نه شم، د مهربانۍ له مخې په بیلابېلو علومو پورې اړوند څو ټوکه کتابونه راولېږئ، چې مطالعه يې کړم. همدا راز که د ساینسي علومو په اړه ځینې رسالې راته راولېږې، نو ډېر به خوښ شم.

د مهربانۍ له مخې به زما سلامونه ټولو ملګرو ته ورسوئ.

که کوم خدمت وي امر وکړئ، چې پر ځای يې کړم.

په درناوي

ستاسو زوی بریالی

نېټه:___/ ___/ ___

لاسلیك: __________

# د شمولیت غوښتنلیک

د پوهنې محترم رئیس صاحب

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

زه میوند د حمیدالله زوی، سږ کال د محمد ګل خان مومند د لومړني ښوونځي له نهم ټولګي څخه تر ټولو په ښه درجه فارغ شوی یم، غواړم چې خپلو زده کړو ته دوام ورکړم، له دې کبله له تاسو څخه هیله کوم، چې د ابدالي لیسې د لسم ټولګي د داخلېدو امر راکړشي. مهرباني به مو وي.

نېټه: ___/___/___

لاسلیک:___________

---

سپارښتنې:

- ګرانو زده کوونکو! پورتنی غوښتنلیك په کتابچو کې ولیکئ او له یاده یې زده کړئ.
- ښوونکی دې د پورتني غوښتنلیك په څېر نور غوښتنلیکونه هم زده کوونکو ته وروښیي.

# دا وطن

دا وطـــن ودان وطـــن

دا د لوی افـغـان وطـن

دا پر موږه ګـران وطـن

خـــاوره د غـيـرت ده، زلـزلـې لــــــري تـوپـان لـري

غـرونـو کې بازان لري

شور يې په سيندونو کــې

تـاو يې لـويو غرونو کـــې

ميـــنه يـې په زړونو کـــې

خېژي لــه سيـنـې، دهـــر افـــــغــانه ولـولــې لـري

بـــــلندې لـمبـې لري

اوسـي افغـانـان په کـې

نـســـل اتــلان پــه کـــې

واړه ســربـازان پــه کــې

ثــاري يــې د غـــرو اوچــت ســــرونه لــه آسمان سره

ننـګ او له ايمان سره

(سلېمان لايق)

سپارښتنه:

- ښـوونکی دې پـورتنی د وطـن شـعر پـه زده کوونکـو بانـدې پـه مـوزون آواز ولولي.
- ښوونکی دې د پورتني شعر په مفهوم باندې خبرې وکړي.

# یــووالــی

یوه ورځ ښایسته ګل له خپل پلار سره د رشکې په پټې کې بېل واهه او چمان یې غورځول. د یوه چم په غورځولو سره یې لاس وبریښېده او درد یې پیدا کړ.

ښایسته ګل ډاکټر ته ولاړ. ډاکټر د ښایسته ګل لاس پلستر کړ.

ښایسته ګل، چې سبا ښوونځي ته راغی ګوري، چې مېز یې بې ځایه شوی دی. هر څومره زیار یې چې ویوست، په یوه لاس سره یې مېز پر خپل ځای سم نه شو کړای. په دې وخت کې اسد ټولګي ته راننوت. ښایسته ګل د اسد په مرسته مېز په خپل ځای کېښود ښایسته ګل وویل: اسد جانه! لاسونه د الله ﷻ څومره لوی نعمت دی، که انسان لاسونه ونلري هېڅ کار نشي تر سره کولی. زما یو لاس درد کوي، ما ونشو کړی، چې په یوه لاس خپل مېز سم کړم. مګر ستا په مرسته مې سم کړ.

اسد وویل: د بدن ټول غړي دالله ﷻ ډېر ښه نعمتونه دي، که دوه لاسونه روغ وي سړی کولی شي، چې ډېر ښه کارونه تر سره کړي. همدارنګه که دوه ورونه سره روغ او یووالی ولري، ښه کارونه سرته رسولی شي. په عزت او پت کې به ژوند کوي. که بې اتفاقه وي د یو لاس په څېر هېڅ کار نشي کولی. تل به په خوارۍ او

خواشینۍ کې ژوند کوي. یوه کورنۍ له مونږ سره ګاونډیتوب لري. په دې کور کې دوه ورونه دي. دوی داسې په یووالي کې ژوند کوي، لکه چې د یوه بدن روح وي. دوی د خوښۍ، عزت او پت په چاپېریال کې ژوند کوي. د دوی ژوند ورځ په ورځ ښه کېږي. تر دې چې د دوی یووالی په خلکو کې مثال ګرځېدلی دی.

ښایسته ګل وویل: زه کله کله د خپل بدن غړیو ته ځیر کېږم او ورته فکر کوم، د هغو له کړو وړو څخه ډېر شیان زده کوم. که انسان چوپتیا غوره کړي او په خپل وخت سره ښه خبره وکړي، خپله خوله ورته د امن کور ګرځي. سترګې د علم او پوهې له کور سره تشبه کولی شو، د ګوتو له کړو وړو څخه د یووالي درس اخلو.

الله ﷻ په یووالي خوښېږي. په یووالي کې عزت، پتمني او نیکمرغي ده، په هغه ځای کې چې یو والی وي، هلته هوساینه او نېکمرغي وي که چېرې د یوې کورنۍ په منځ کې یووالی وي. دا کورنۍ د خلکو په منځ کې ډېره درنده برېښي، مګر په بې اتفاقۍ کې خواشیني، بې عزتي او داسې نورې ډېرې نیمګړتیاوې وي. له همدې امله قرآنکریم موږ ته د یووالي، ورورګلوۍ او مشورې امر کړی دی.

اسد: تر هغه ځایه چې زه پرې پوهېږم، د لاندې ټکو په پام کې نیولو سره په کورنۍ کې یووالی په ښه توګه ټینګېدی شي.

د کورنۍ د غړیو په منځ کې دوستانه سمون او په زړه پورې اداره باید را منځ ته شي.

یو بل ته درناوی ولري.

د ورځنیو کارونو لانښه کولو ته پاملرنه وکړي.

یو بل ته ګټه ورسوي.

هرکار په مشوره سره سرته ورسوي.

د خپلو کوچنیانو او د ورور د کوچنیانو تر منځ مینه او ډاډ رامنځ ته کړي.

یو بل ته لکه بدن او روح و اوسي.

که چېرې د کورنۍ یو غړی د خپل کهول له اجازې څخه وروسته چېرته ځي خپله پته دې په کور کې پرېږدي.

ښایسته ګل: اسد جانه! که هره کورنۍ دا کارونه وکړي، د هغې کورنۍ یووالی به تل پر ځای وي، خو له بده مرغه زه یوه کورنۍ پېژنم، چې دوه ورونه دي، هغوی دا کارونه، نه کوي. هغوی تل په جنګ او شخړه کې وي. د هغوی کهول هر شي ته اړوي تر دې چې ځینې وخت داسې هم کېږي، چې د څښلو اوبو ته هم اړتیا لري.

ژوند یې په غم او سپکاوي کې تېرېږي. لویانو ویلي دي، چې له بې اتفاقۍ څخه په کوزه کې اوبه وچېږي او هغه په دې کور کې په سترګو لیدل کېږي. رښتیا هم د بې اتفاقۍ او دښمنۍ له امله

غمونه سپکوالی، بې عزتي او نا آرامي را منځ ته کېږي. لـه همدې امله ده چې قرآن کريم مونږ له بې اتفاقۍ څخه منع کړي يو.

| لغتونه: | معناګانې: |
|---|---|
| يووالی | اتحاد |
| پت | عزت |
| تشبه | ورته والی |
| ځير | دقت |
| نظم | ترتيب |
| غړی | عضو |
| وبرېښېده | وځلېده |
| امن | کراري، آرامي |
| اتفاق | يووالی |
| چوپتيا | خاموشي |
| ګټه | فايده |
| کهول | کورنۍ |

---

❖ ددې درس پـه پـای کـې دې يـو زده کـوونکی د ښايـسته ګـل او بـل زده کوونکی د اسد پېښې او کړه وړه وکړي.
ددې لـه پاره چې دا درس زده کوونکو تـه ګټـور وګرځي، ښايسته ګل دې خپله برخه او اسد دې خپله برخه په کاغذ وليکي او کله يې چې لـولي پـه لاسونو دې هم موضوع تمثيل کړي.

# نشه يي توكي

ټول هغه توكي چې كارول يې دلږې يا ډېرې نشې سبب كېږي نشه يي توكي يا مخدره مواد بلل كېږي. لكه: نسوار، سګرټ، چلم، چرس، شراب، ترياك او نور چې د هر يوه كارول بېلابېل تاوانونه لري.

دا توكي له يوې خوا زموږ داسلام دمقدس دين له خوا تقريباً ۱۴۰۰ كاله پخوا په كلكه منع كړل شوي دي ځكه چې هېڅ يو يې بدن ته كومه ګټه نلري خو تاوانونه يې ډېر دي.

له بلې خوا اوسني طب هم ددې توكو تاوانونه او په بدن باندې يې بدې او ناوړه اغېزې په اثبات رسولې دي چې له ځينو تاوانونو څخه به يې په لاندې توګه يادونه وكړو.

نسوار چې له بده مرغه زموږ دهيواد ډېر وګړي يې كاروي يو ضرري توكى دى چې دغاښونو دخرابوالي او دخولې دبدبويۍ سبب كېږي.

چلم او سګرټ د سږو دخرابوالي او حتى دسرطان دوژونكې ناروغۍ لوى او مهم عامل يا سبب هم بلل كېږي.

چرس، شراب، ترياك اونور هم بېلابېل زيان رسوونكي توكي دي.

د دغـو توکـو کـاروونکي پـه لومړيـو ورځـو کـې يـوه انـدازه خـوښي احساسوي خو ورو ورو د بدن قوت له لاسه ورکوي. چې په لږ وخت کې دليونتوب او په پای کې د مرګ کندې ته لوېږي.
تاسو به ځينې هغه نشه يان چې ترياك يا لـه هغـو څخـه جـوړه شـوې مـاده چې پـوډر يـې بـولي کـاروي ليـدلي وي چې پـه هغـو ناپـاکو ځـايونو کـې اوسي چېرتـه چې روغ خلـك هلتـه هېڅ تـګ او راتـګ نه کوي خو دغه نشه يان چې له ځان او جهـان څخـه نـاخبره او د ښـو او بدو په فرق نه پوهېږي هلته اوسي. نشه يان چې کار نشي کـولی خلکو ته ديوې افغانۍ دورکړې عذر او زارۍ کوي يا هر څه چې پـه لاس ورځي غلا کوي يې او په لږو پيسو يې پلوري ترڅو د دغو نـشه يي توکو د پيرودلو څخه څو پېسې لاس ته راوړي.
موږ هم بايد ځان ورڅخـه وسـاتو او هـم خپـل خپلـوان او نـور خلـك د دې حرامـو توکـو پـه ضـررونو پـوه کـړو چـې لـه کـارولو، کرکيلـې يـا کرلو، پلورلو او پيرودلو څخه يې ځانونه وساتي.

سپارښتنه:

- ښوونکی دې دنشه يي توکو د زيانونو په هکله خبرې وکړي.
- زده کوونکي دې د نشه يي توکو د زيانونو په هکله نورو ته معلومات وړاندې کړي.
- زده کوونکي دې د نشه يي توکو د زيانونو په هکله څو کرښې په خپلو کتابچو کې وليکي.

# مرستندوی غږونه او توري

مرستندوی ( کومکي ) غږونه او توري د پښتو ژبې په ګرامر کې په څو ډوله دي:

موږ ټول اصلي توري د دغو غږونو په مرسته وایو. ځکه چې اصلي یا چوپ توري د مرستندویو غږونو له مرستې پرته نه ویل کېږي. په پښتو کې اووه غږونه او کومکي توري ( واولونه ) موجود دي.

۱- زور لکه: ور، غر، غږ.

۲- زورکی لکه: شل، وچ، مچ.

۳- زیر: دا حرکت اوس د پښتو ګرامر کلموکې د( ې ) دحرکت په شان راځي لکه: نازِل، عاقِل او باطِل او نور ....

۴- پېښ: دا حرکت د پښتو ګرامر په کلمو کې د اوږده ( واو) په ډول استعمالیږي. لکه: تجاهل، تغافل، مُل، او نور....

۵- الف: لکه: ژړا ، لیلا ، ګډا ، پخلا او نور.

۶- څرګنده ي لکه: ښادي، خپلوي، دوستي.

۷- څرګند واو لکه: آلو ، کدو ، کندو ، چاقو .

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې مرستندوي غږونه او توري له زده کوونکو څخه وپوښتي.
- زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د څو مرستندویو غږونو او تورو مثالونه ولیکي.

# د ځينو تورو ډولونه

و: واو د پښتو ژبې په ګرامر کې په څلور ډوله دي.

الف- نرم واو چې پوست او نرم ويل کېږي او د مخه توری يې زور لري لکه : پلو، لو، کنډو.

ب- څرګند واو: چې څرګند او دروند پېښ لري لکه:کچالو، چاقو، تالو.

ج- اوږد واو: چې اوږد او نرم ويل کېږي لکه: پښتو، زانګو، پيشو، اور، کور، خور، مور.

د- کوچنی واو: چې سپك او لنډ ويل کېږي لکه: لومړی، تاسو، پوښتنه، ولوله، پلوشه، ورشه.

ی- د پښتو ژبې په ګرامر کې پر پنځه ډوله ده:

الف: نرمه (ی): چې پسته ويل کېږي او په دغه (ی) باندې ختم شوې کلمې نارينه نومونه بلل کېږي لکه: سړی، منګی، اوړی، منی، ژمی،توريالی، بريالی.

ب: څرګنده (ي): چې درنده ادا شي لکه: دوستي، ښادي، شين او سپين.

ج:لکۍ واله (ۍ): چې د مخه توری یې زورکۍ لري او یوازې د کلمې په پای کې راځي لکه: هګۍ، خولۍ، کړکۍ او نجلۍ.

د: اوږده (ې) : چې اوږده ویل کېږي. لکه: منې، شپېدې، کوټې، پخې.

هـ: امریه فعلي (ئ): دغه (ئ) ډېره د امر پرمهال کارول کېږي. نوره کټ مټ د زور کي والې (ۍ) په څېر ده. مثالونه یې دادي: ولیکئ، وخورئ، وڅښئ، مه کړئ، مه ګورئ، ګورئ او نور....

(هـ) په پښتو کې پر دوه ډوله ده:

الف: څرګنده او لویه (هـ) چې د مخه توری یې زور لري او دښځینه نومونو په پای کې راځي. لکه: پیاله، چوغکه، پوزه، کوټه او شنډه.

ب: پټه او کوچنۍ (هـ) چې دمخه توری یې زور کی لري او د نارینه نومونو په پای کې راځي. لکه پسه، نیکه، اوږه او زړه.

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې د لوستل شویو تورو استعمال په نورو کلمو کې زده کوونکو ته د تختې پر مخ ولیکي.
- زده کوونکي دې لوستل شوي توري په نورو کلمو کې ور وښیي، څوکلمې دې په خپلو کتابچو کې ولیکي او بیا دې نوموړي توري په کې استعمال کړي.

# کلــمــه

هغه لفظ چې د يوې معنا له پاره لـه خـولې څخـه راوځـي، کلمـه بلل کېږي. په بله وينا کلمه يوه معنا لرونکي لفظ ته وايي.

کلمه په دوو لويو خپلواکو او ناخپلواکو برخو باندې وېشل شوې ده. موږ د يوې موخې دپوره څرګندولو له پاره اړ يو، چې څو کلمې يو ځای کړو. د کلمو لـه يوځـای کولـو څخـه جملـه او کـلام جوړېږي.

په کلام کې هغه کلمې چې پـه خپلـه خپلواکـه (مـستقله) معنـا ولـري خپلـواکې کلمـې دي اوکـه د نـورو کلمـو پـه مرسـته معنـا پيـدا کـړي ناخپلواکې کلمې بلل کېږي. د خپلواکوکلمـو ډولونـه پـه لانـدې ډول دي:

**نوم:** چـې د يـوه شـي نـوم وي لکـه لمـر، زوی، ورور، چـرګ، وېـره، پوهه او فکر.

**ضمير:** چې د لنډېز له پاره د نوم پر ځای راځي لکه زه، ته،تاسې، دی، دوی، دا، هغه

**صفت**: هغه کلمه ده، چې د نوم حالت او څرنګوالی بیانوي لکه ټيټ، جګ، تور، ټول، لړ، ډېر، خوږ، سوړ.

**فعل**: هغې کلمې ته وايي، چې په یوه زمانه کې د کار په کولو او کېدلو باندې دلالت وکړي. لکه: ځم، کښېنم، واخیست، وخوړ، وبه وایم، وبه څښم.

**قید**: هغې کلمې ته وايي، چې د فعل یا صفت حالت، څرنګوالی، زمان او مکان وښيي لکه: ژر ژر، ورو، ورو، نن، پرون، دلته، پاس، ډېر سپين او داسې نور....

**ادات یا توري**: هغه توري چې خپلواکه معنا نه لري او د فعلونو او نومونو سره د یوې معنا له پاره استعمالېږي، ادات یا توري بلل کېږي لکه: له، د ، نه، سر، تر، په، کې او نور.

**دوهمه برخه**: ناخپلواکې کلمې: هغه کلمې دي چې په خپله معنا ونه لري خو د خپلواکو کلمو په مرسته په کلام کې معنا بشپړوي. لکه: ادات یا توري چې خپلواکه معنا نه لري او د فعلونو او نومونو سره د یوې معنا له پاره استعمالېږي. لکه: له، د ، نه، سره، تر، په، کې، چې.

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې د کلمو د ډولونو مثالونه په زده کوونکو باندې مشق او تمرین کړي.
- زده کوونکي دې د کلمو د ډولونو څو مثالونه په خپلو کتابچو کې ولیکي.

## په خپلواکو کلمو کې نوم او دهغه ډولونه

نوم د مفهوم او معنا له مخې ډېر ډولونه لري:

**خاص نوم:** چې په یو خاص سړي یا یو خاص شي باندې دلالت کوي. لکه:

کندهار، احمد شاه بابا، رحمان بابا، کابل، افغانستان.

**عام نوم:** هغه دی چې په همجنسو شیانو باندې دلالت وکړي.

لکه: سړی، لرګی، هېنداره، هېواد، ښار، زده کوونکی او نور.

**د جنس نوم:** هغه دی چې په لږو او ډېرو باندې یو ډول دلالت کوي. لکه: اوبه، غوړي، غنم او تېل.

**ډله ییز نوم** (د جمعیت نوم): هغه دی، چې د یوې ډلې له پاره راشي. لکه: لښکر، جرګه، رمه، ټولی، ولس.

**مجرد نوم یا د معنا نوم:** هغه دی، چې مادي وجود نه لري. یعنی په سترګو نه لیدل کېږي لکه: عقل، پوهه، وېره، غم، درد او نور.

---

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې د خپلواکو کلمو او د نوم د ډولونو په باب خپل معلومات نورو ټولګیوالو ته بیان کړي.
- زده کوونکي دې دځو نومونو ډولونه په خپلو کتابچو کې ولیکي.

# نورو ته خير رسوه

انســانـان دي يــو لــه بلــه سره ورونه
څه که بېل يې دي لــه يــو بلــه كـورونه
مينــه بــويــه مـحــبــت ورسـره بويه
دغــه كــار كـوه لـه هـر وړوكي لــويــه
څو دې توان وي په بدن او په وجود کې
تېـروه عـمر د نــورو پــه بــهــبود کې
ځــان د نـورو پــه خـدمـت کې خوار وه
هــم بــې وزلـــه غــريــب مــه ازاروه
كه مطلب دې وي چې نوم دې په ښو ياد شي
ستــا په مرسته دې بې وزلـه غريب ښاد شي
ډېوه ګـوره خـپلـه سوځي خو رڼا کړي
هم په وړانګو کې روښانه شاو خوا کړي
تــه هـم داسې خپله سوځه خـنـدوه نور
خير دې نورو ته هـر وخت کې رسوه نور
كــه پــوره دې كـړه اړتــيـا د بــې وزلاتو
نــو حســاب بــه شـې پـه ډلـــه د نېكانو
چې دې څو كېږي له لاسه خېر رسان شه
نېك عمله او نېك خويه ښه انسان شه
(نصر الله حافظ)

---

سپارښتنې:

- ښوونكى دې پورتنى شعر معنا کړي او په مطلب دې خبرې وکړي.
- زده كوونكي دې د پورتني شعر يو يو بيت په خپلو كتابچو کې معنا کړي.

# د عبارت په باره کې معلومات

دا لاندې عبارتونه تر لوستلو وروسته ولیکئ او جوړښت ته یې ځیر شئ؟

سور انار، د یما پلار، د کابل ښار، لویه دښته، د احمد کتاب، شین آسمان.

قاعده:

دوې یا ډېرې خپلواکې کلمې چې یوه د بلې تابع او مرکب مفهوم تر سره کړي عبارت بلل کېږي یعنې مطلب ترې نه اخیستل کېږي.
په عبارت کې یوه کلمه اساسي او بله یې تابع وي لکه د (شین آسمان) په عبارت کې (آسمان) اساسي او( شین ) کلمه د هغې تابع شوې ده.
په پوره عبارتونو کې:
د ( انار، پلار، ښار، دښته، کتاب ) کلمې اساسي او تابع کوونکې دي. همدارنګه د ( سور، یما ، کابل، لویه، احمد) کلمې د تابع شوو کلمو په نامه یادوي.

---

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې د عبارت په هکله نورو ته معلومات ورکړي، او بیا دې څو عبارتونه په خپلو کتابچو کې ولیکي.

# عبارت او جمله

عبارت له دوو یا زیاتو کلمو څخه داسې جوړ شوی دی چې پوره معنا او مفهوم تري نشو اخیستلی. نو ځکه عبارت هېڅکله د جملې ځای نشي نیولی او جمله تر عبارت څخه مطلب پوره بیانوي، له بلې خوا د جملې اصلي برخې لکه: (مبتدا، خبر او یا د جملې نورې اجزاوې) په عبارت کې نه راځي. لکه: (زما پلار) یو عبارت دی او که وواېو چې (زما پلار راغی) نو دا جمله ده نه عبارت ځکه چې بشپړه معنا لري.

۴- مشق: لاندې یو شمېر عبارتونه او جملې درکړل شوې دي تاسې دغه عبارتونه او جملې سره جلا کړئ بیا یې په کتابچو کې ولیکئ. شنه پاڼه، دا شنه پاڼه ده، تازه میوه د هر چا خوښېږي، د نجیب ملګری، د نجیب ملګری راغی. زراعتي ځمکه، زلمی زراعتي ځمکه لري.

۵- مشق: د لاندې عبارتونو په مرسته په خپلو کتابچو کې جملې جوړې کړئ. غوړېدلي ګلان، د اختر ورځ، لوړ غرونه، سړه هوا، د پسرلي موسم. مثلاً زمونږ هېواد لوړ غرونه لري.

۶- لاندې جملې تر لوستلو وروسته په خپلو کتابچو کې ولیکئ او له هغو څخه عبارتونه بېل کړئ، زمری تکړه بزګر دی، سورګل وغوړېده، نسیمه خپل کورته ، کال دوولس میاشتې دی. نجیب ښکلی خط لري. مثلاً نسیمه خپل کورته .

# ساده او مرکب عبارت

لاندې عبارتونه تر لوستلو وروسته په کتابچو کې ولیکئ او ورته ځیر شئ. د اوړي تکنده غرمه، ځلور خواوې، اووه خود کار قلمونه، د کابل ښایسته ښار، د ژمي سړه شپه، د یما ملګری، سره مڼه، د ګلاب ګل.

قاعده: ساده عبارت له دوو خپلواکو کلمو څخه جوړېږي. مرکب عبارت له دوو زیاتو خپلواکو کلمو څخه جوړېږي لکه په پورتنیو عبارتونو کې (د یما ملګری، سره مڼه، د ګلاب ګل، ځلور خواوې) ساده عبارتونه دي او (داوړي تکنده غرمه، اووه خود کار قلمونه، د پخواني تاریخ، د کابل ښایسته ښار، د ژمي ډېره سړه شپه) مرکب عبارتونه دي.

۷- مشق: لاندې عبارتونه تر لوستلو وروسته په خپلو کتابچو کې ولیکئ د ساده والي او مرکب والي له مخې یې سره جلا کړئ.

زموږ هېواد، ښه لوست، پنځه کتابونه، زموږ ګران هېواد، لوی کور، زموږ لوی کور، پنځه تور قلمونه، شپږ د لوست کتابونه.

| ساده عبارت | مرکب عبارت |
|---|---|
| لوی کور | زموږ لوی کور |

مثال:

۸- مشق: ددې لاندې کلمو څخه ساده او مرکب عبارتونه جوړ کړئ.

ښوونځی، لار، کتابچه، آسمان، سیوری، دوه دېرش، ځغاستل.

کله چې مونږ خبرې کوو او خپل فکر دویلو او لیکلو په ډول څرګندوو، دې ته اړتیا پیداکوو چې جملې ووایو. ځکه چې زمونږ وینا وې له جملو څخه جوړې شوې دي او خپل فکر مو په جملو کې

بیان کړی دی، نو په دې معنا جمله د ویناوو اساسي واحد ګڼل کېږي.

جمله له کلمو څخه جوړېږي، خو د جملې د جوړولو له پاره یوازې د کلمو شمېر حتمي نه دی، بلکې د کلمو اړیکې چې پوره مفهوم ورسوي ضرور دی. که چېرې جمله له څوکلمو څخه جوړه شي، نو هغه باید پوره مفهوم ورسوي مثلاً:

۱- هر افغان له خپل هېواد سره مینه لري.

۲- بزګر په ځمکه کې کار کوي.

۳- نسیمه له کتاب لوستلو سره مینه لري.

۴- ځه.

۵- ولیکه.

لکه څنګه چې په پورته مثالونو کې لیدل کېږي جمله د مرتبطو کلمو څخه جوړه شوې ده نو دا نتیجه لاس ته راځي.

**قاعده**: دوې یا تر دوو زیاتې اړونده کلمې او یا یوه ځانګړې کلمه چې پوره او بشپړ مفهوم څرګند کړی شي جمله بلل کېږي.

هغه پوهه چې د جملې له جوړښت څخه بحث کوي د نحوې علم یا سنتکس ورته وایي.

**۹- مشق**: لاندې مشق ولولئ او ووایئ، چې له څو جملو څخه جوړ شوی دی.

افغانستان یو زراعتي هېواد دی. زمونږ زیاتره وګړي مالدار او بزګران دي، د دې هېواد بزګران له حیواناتو او له حیواني محصولاتو لکه شیدې، پنیر، مستو، غوړیو او غوړیو څخه ګټه اخلي.

نور حیواني محصولات یې لکه وړۍ، پوستکي، ښکرونه او هډوکي دي. له دې محصولاتو څخه د ژوندانه د ډول ډول اړتیاوو د لرې کولو له پاره کار اخیستل کېږي.

۱۰- مشق: لاندې کلمو ته اړیکې ورکړئ. او جملې ترې جوړې کړئ، رمې- بیایي، شپانه، په، پخېږي، ډول ډول، دوبي، مېوې، کې، پسرلی، ته، رنګ رنګ، کې پیدا کېږي، ګلان.

# په جملو کې د کلمو اړیکې

دا لاندې جملې تر لوستلو وروسته په خپلو کتابچوکې ولیکئ او اړیکوته یې چې کرښه ترې لاندې ایستل شوې ده ځیر شئ.

۱- شغله او وږمه په یوه ټولګي کې درس لولي.

۲- د فرهاد په بڼ کې ښایسته ګلان شته.

۳- پرون زه او شینکۍ له پلار سره ښار ته لاړو.

په پورتنیو جملو کې (او، په، کې، د ، سره) د اړیکو کلمې دي چې د جملو د اړیکو له پاره راغلي دي.

**قاعده:** کلمې په جمله کې یوه له بلې سره اړیکې لري دغه اړیکې دمختاړي (سرینو) وروستاړي (پسینو) عطفو او ربط، اضافت توري (ز،س، د ، او) او د مستقل ضمیر په واسطه منځ ته راځي لکه په پورتنیو جملو کې وینو چې تر رابطو لاندې کرښه ایستل شوې ده او کلمو ته یې اړیکې ورکړې دي.

۱۱- مشق: لاندې شعر ولولئ بیا یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ. او تر هغو کلمو لاندې کرښه وکاږئ چې د کلمو تر منځ د اړیکو له پاره راغلې دي.

## په خپل شوق مکتب ته ځم

د مکتب یـــم زده کوونکی
هم به پوه شم هم لیکونکی

په خپل شوق مکتب ته ځمه
ډېر کوښښ او زیار کومه

چې لـه نـــورو هــلـکانو
او لـــه خپــلو همـزولاتو

پـه تـعلیم کې پاتې نـه شم
او لــه هر چـا ښخه ښه شم

په کوښښ سره ښــــه کېږم
او تر هـــر چا وړاندې کېږم

(مرحوم کشککی)

۱۲- دا لاندې جملې تر لوستلو وروسته په خپلو کتابچو کې ولیکئ او تر هغو کلمو لاندې کرښه وکاږئ چې د اړیکو له پاره راغلي دي.

۱- زلمی او بریالی ټولګي ته لاړل.

۲- خپل ورورته مې کتابچه واخیستله.

۳- د سهار رڼا ورو ورو خپرېده.

۴- هغه موزیم ته لاړ.

په جمله کې تم نښې: کله چې موږ د ویونکي خبرې اورو، د ده له آواز، تلفظ او ځنډ ښخه په ښه توګه پوهېدلی شو چې جمله پای ته رسېدلې ده او که نه. په لیکلو کې د تم نښو په وسیله یوه جمله له بلې ښخه جلا کېږي.

د تم نښو پېژندل (.-،-؟-:-!؛) او د هرې نښې په مناسب ځای کې راوړل ډېر مهم کار دی.

۱۳- مشق: لاندې څو جملې در کړل شوې دي، تاسې په هغو کې تم نښې راوښيئ. او بيا يې نومونه ووايئ.

۱- د لمر زرينې وړانګې د ځمکې پر مخ خپرې شوې دي.

۲- ژوندی دې وي، زموږ ګران، خپلواك او اسلامي هېواد افغانستان.

۳- د پسرلي ښکلا، په څه شي کې ده؟

۴- وړمې وويل: "برښنا ډېره ځيرکه نجلۍ ده"

۱۴- مشق: لاندې متن ولولئ بيا يې په خپلو کتابچو کې وليکئ او تر تم نښو لاندې يې کرښې وکاږئ.

د جمعې ورځ وه، څو تړوتې تورو وريځو آسمان نيولی و. د وريځو سيوری د ځمکې پرمخ په حرکت کې و، سيوری له درمندونو او غرونو څخه تېرېده. کلي هم کله کله په سيوري کې واقع کېدل او کله کله د لمر وړانګو روښانه کول. ايمل پر يوه غونډۍ ناست و. د کلي، بڼونو، درمندونو، غوايانو او پسونو ښکلې منظره يې ليدله. څو شيبې وروسته ايمل يو سړی وليد چې پر مخامخ غونډۍ باندې پورته ځي او د اوبو زېرمې ته نږدې کېږي.
ايمل وويل: اې وروره! ته څوك يې؟ هغه سړي خپل ځان انور ور وپيژانده. ايمل وخندل او پوه شو چې انور د ده د ګاونډي زوی دی. هوا لږه لږه تياره شوه، ايمل له غونډۍ ښکته شو او په لاره روان شو. ده له ليرې نه د کلي خواته کتل د کلي د کورونو څراغونه روښانه شوي وو.

# په جمله کې د کلمو د اړیکو ډولونه

په جمله کې د کلمو اړیکې په دوه ډوله دي چې په لاندې شکل کې ښودل شوي دي:

په جمله کې د کلمو اړیکې

عطفي اړیکه — تابعي اړیکه

| | |
|---|---|
| د سمون اړیکه | د ملتیا اړیکه |
| اضافي اړیکه | د ترنې اړیکه |

الف: عطفي اړیکه:

لاندې جملی ولولئ بیا یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ او هغو کلمو ته چې کرښه ور لاندې ایستل شوې ده ځیر شئ.

۱- نن هوا تازه او ښکلې ده.

۲- احمد او محمود سره ورونه دي.

۳- اېمل په کور او کلي کې ښه نوم لري.

په پاسنیو جملو کې د (تازه، ښکلی) ، (احمد ، محمود) ، (کور، کلي) کلمې برابر او مساوي حالت لري. د کلمو په منځ کې د عطف اړیکه د (او) د کلمې په واسطه ټینګه شوې ده.

**قاعده**: په دې اړیکه کې کلمې په مساوي او متوازن صورت په جمله کې یو له بله سره تړل کېږي لکه ځمکه او آسمان. کور او کلی.

**۱۵- مشق**: دا لاندې جملې ولولئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ، بیا تر هغو کلمو لاندې چې د نورو کلمو تر منځ د عطفي اړیکو په ډول راغلې وي کرښه وکاږئ.

۱- افغانان په آزادۍ او خپلواکۍ مین دي.
۲- د زلمي پلار په قهر او غضب کور ته لاړ.
۳- هر څوك له خپل مور او پلار سره مینه لري.
۴- تورپیکۍ ښایسته او هوښیاره نجلۍ ده.
نوټ: کله کله د (و) کلمه هم د اړیکو له پاره راځي لکه خور و ورور، مور و پلار، تور و سپین او داسې نور.
۱۶- مشق: لاندې متن لومړی ولولئ بیا یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ او وروسته تر هغو کلمو لاندې کرښه وکاږئ چې د عطفي اړیکې له پاره راغلې دي.
خوشحال خان که د یوه توریالي جنرال په توګه د جنګ په ډګر کې تورې وهي او د رزم حماسې لري، خو د جوړې او روغې په ټولنو کې هم د بزم په سرکې ناست وي او د ټولنې د ژوندانه رانه او تیاره اړخونه هم ښیي او کره کوي یې، وړ یې ستایې او ناوړ یې غندي، نو ځکه په هغو کې د خوشحال خان د کره کتنې یوه غوره انتقادي پانګه سره را یو ځای شوې ده، چې د پښتو د ادب د کره کتنې په برخه کې ساري نه لري.

(عبد الحي حبیبي)

۱- تابع اړیکه: په دې اړیکه کې تابع والی موجود وي. هغه کلمه چې ځان تابع کوي، تابع کوونکې کلمه بلل کیږي او هغه کلمه چې د بلې کلمې تابع ده، تابع شوې کلمه نومیږي. تابع اړیکه په څلور ډوله ښودل شوې ده: د سمون اړیکه، اضافي اړیکه، د تړنې اړیکه او د ملتیا اړیکه.

د سمون اړیکه: لاندې جملې تر لوستلو وروسته په خپلو کتابچو کې ولیکئ او هغو کلمو ته ځیر شئ چې کرښه ور لاندې ایستل شوې ده.

۱- زه د زیارکښو هلکانو سره مینه لرم.

۲- ته پرون ښوونځي ته نه وې راغلی.

۳- نجونی باغ ته د ګلونو سیل ته تللي دي.

قاعده: د سمون اړیکه د مبتدا او خبر په منځ کې واقع کېږي. خبرد جمعې او مفرد مذکر او مؤنث له مخې له خپل مبتدا سره سمون لري. په لومړۍ جمله کې (زه) د خپل خبر (مینه لرم) او په دوهمه جمله کې (ته) مبتدا د خپل خبر ( نه وې راغلې) سره سمون لري. دواړه سره مفرد دي. په درېیمه جمله کې نجونې (جمع مبتدا) او (تللې دي) جمع خبر دی. چې له خپل مبتدا سره سمون لري.

۱۷- مشق: لاندې جملې تر لوستلو وروسته په خپلوکتابچو کې ولیکئ. بیا یې تر خبر او مبتدا لاندې کرښه وکاږئ، چې د سمون اړیکه پکې موجوده وي.

۱- زده کوونکي په ټولګي کې ناست وي.

۲- مور پرون له ننګر هار څخه راغلو.

۳- ته پرون ډېر خوشحاله وې.

۴ - زلمی له خپل هېواد څخه دفاع کوي.

۱۸- مشق: شعر په خپلو کتابچو کې تر لوستلو وروسته ولیکئ. او د سمون اړیکه په کې وښیئ.

# زموږ د هېواد غرونه

دغه ښـــکلي غرونه هسك له برمه يې سرونه
سپينو واورو باندې پټ دي ترې روان څپاند سيندونه
د لالـونـو نـوې زېـر مـــې د يـاقــوتــو سـره لالـونه
د لاجـــوردو اوازه يـــې خبـــر كـړي ولـســونـه
مــس مـشــهـوره د عينكو د صنعــت ږدي بنستونه
د هر غره په هر ګړنګ كې د دښـــمن مات دي غاښونه

هــر ه تيږه يـــې "نـــژنده"
كـــړي د ژوند حــكايتونه

(محمد عثمان نژند)

۲- اضافي اړيكه: لاندې جملې تر لوستلو وروسته په خپلو كتابچو كې وليكئ. او هغو كلمو ته ځير شئ چې كرښه ور لاندې ايستل شوې ده.

۱- د احمد پلار كاركر دى.
۲- ستا وريرونه په ښوونځى كې درس لولي.
۳- بريالي زما كتاب امانت واخيست.

قاعده: په اضافي اړيكه كې يوه كلمه له بلې كلمې سره د اضافي تورو (س، ز، د) په وسيله اړيكه پيدا كوي. د مضاف كلمه ټاكل شوې او د مضاف اليه كلمه ټاكونكې نومېږي.
لكه په پورتينيو جملو كې د اضافت اړيكې د (د، س، ز) توري دي چې (داحمد، ستا او زما) له كلمو سره راغلي دي نو ( داحمد، تا،

ما) کلمو ته مضاف الیه یا ټاکونکي او د (پلار، وریرونه، کتاب) کلموته مضاف یا ټاکل شوې کلمې وایي.

۱۹- مشق: لاندې جملې تر لوستلو وروسته په خپلو کتابچو کې ولیکئ او تر هغو کلمو لاندې کرښه وکاږئ، چې د اضافت اړیکه په کې موجوده وي.

۱- ستا ورور په کابل کې مامور دی.
۲- زمونږ کور ښوونځي ته نږدې دی.
۳- د ورغوي ټناکه مرغلره ده.

۲۰- مشق: لاندې بیتونه تر لوستلو وروسته په خپلو کتابچو کې ولیکئ او تر هغو کلمو لاندې کرښه وکاږئ چې د اضافت اړیکې ولري.

د ډهلي تخت هېرومه چې را یاد کړم
زما د ښکلي پښتونخواه د غرو سرونه
که هر څو مې د دنیا ملکونه ډېر شي
زما به هېر نشي دا ستا ښکلي باغونه
تا ته راشمه زړګی زما فارغ شي
بې له تا مې اندیښنې دزړه مارونه

(احمد شاه بابا)

۳- د تړنې یا د وابستګۍ اړیکه:

دا لاندې جملې تر لوستلو وروسته په خپلو کتابچو کې ولیکئ او هغو کلمو ته ځیر شئ چې کرښه ور لاندې ایستل شوې ده.

۱- زلمی بازار ته ولاړ.
۲- توریالی له ښوونځي څخه راغی.
۳- ملالۍ په قلم لیك کوي.

**قاعده**: د ترڼې په اړیکه کې له جملې څخه تابع شوې کلمه مجبور وي چې په جملو کې د بشپړوونکې یاد نحوي قید په توګه واقع شي. په لومړۍ جمله کې وینو چې (ولاړ) د جملې خبر دی د (بازار) کلمه د (ته) سره یو ځای، چې مکاني نحوي قید دی په جمله کې د خبر (ولاړ) پورې اړه لري. په دوهمه جمله کې د(راغی) کلمه خبر او تابع کوونکې هم ده او د (ښوونځي) کلمه چې مکاني نحوي قید دی د (له څخه) سره یو ځای د (راغی) تابع ده. چې په منځ کې مفعول او بشپړوونکی واقع شویده. په دریمه جمله کې (لیک کوي) خبر او تابع کوونکې کلمه ده او (قلم) بشپړوونکې او تابع شوې کلمه ده چې د (په) سرینه نحوي قید په وسیله (قلم) مفعول او خبر تابع شوی دی.

۲۱- مشق: لاندې جملې له لوستلو وروسته په کتابچو کې ولیکئ او تر هغو کلمو لاندې کرښه وکاږئ چې د ترڼې اړیکه په کې راغلې وي.

۱- زلمي له کتابتون څخه کتابونه راوړل.

۲- وږمه کندهار ته ځي.

۳- دوی په ښوونځي کې درس لولي.

۴- زلمی په ډنډ کې لامبو وهي.

۵- نسیمه له ګل سره مینه لري.

۲۲- مشق: لاندې جملې ولولئ او د هغو کلمو لاندې کرښه وکاږئ چې بشپړوونکې او په نحوي قید واقع شوې اود ترڼې اړیکې یې سره جوړې کړئ.

۱- احمد پر مېز خط لیکي.

۲- تور پېکی په تلویزیون کې فلم ګوري.

۳- زلمی له لامبو سره ډېره مینه لري.

۴- هغه په کرنه پیل وکړ.

**۵-** په لوګر کې خوږې مڼې پیدا کېږي.

د ملتیا اړیکه: لاندې جملې تر لوستلو وروسته په خپلو کتابچو کې ولیکئ او هغو کلمو ته ځیر شئ چې کرښه ترې لاندې ایستل شوي ده.

۱- یما ډېر وخندېده.

۲- اوښ په کراره ځي.

۳- احمد ښوونځي ته په بېړه راغی.

**قاعده**: په دې اړیکه کې تابع شوې کلمه له تابع کوونکې کلمې سره څنګ په څنګ راځي او د تړنې، سمون، اضافي اړیکو او پسینو ته اړتیا نشته او که فرضاً تابع شوې کلمه له جملې څخه لیرې کړای شي، بیا هم جمله معنا ورکوي. په پورته جملو کې (ډېره، په کراره، په تلوار) تابع شوې کلمې دي چې د جملې د خبر یعنې تابع کوونکو (وخندید، ځي، راغی) له کلمو سره څنګ په څنګ راغلې دي.

**۲۳- مشق**: لاندې جملې ولولئ بیا یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ، وروسته تر هغه کلمو لاندې کرښه وکاږئ چې د ملتیا اړیکه ولري.

۱- په اوړي کې تاوده بادونه را الوزي.

۲- د افغانستان لمر ډېر تود دی.

۳- زلمی ژر راغی.

**۲۴- مشق**: لاندې متن ولولئ او تر هغو کلمو لاندې کرښه وکاږئ چې یوله بل سره د ملتیا اړیکه لري.

# پسرلی

د پسرلی موسم دی، ورځې ورو ورو اوږدېږي. په آسمان کې د ورېځو توري لړې لیدل کېږي. د پسرلي وږمه کرار کرار چلېږي. د ځمکې مخ زرغونېږي او پسرلنۍ مېوې پخېږي.

د نشه يي توکو پرضد مبارزې وزارت

ګرانو ځوانانو !

نیشه تاسو د همزولو له سیالۍ څخه غورزوي او کورنۍ
مو د بد مرغۍ سره مخ کوي، ځان ترې وساتئ !

دمخدره توکو معامله ګران دژورې په شان د بزګرانو او
بې وزلو خلکو له وینو څخه ګټه اخلي .

دولت د هر ډول تروریستي اعمالو ، د مخدره توکو کارول ،
قاچاق، تولید او مسکراتو د استعمال مخنیوی کوي.